| Sumari Ant Gel Bait EPA# 1021-2809 | Clothianidin |
| Sluggo EPA# 64402-3-34704 | Iron Phosphate |
| Speedzone Southern 2217-835 | 2,4-D, 2-ethylhexyl ester, Mecoprop-p acid, Dicamba acid, Carfentrazone-ethyl |
| Suspend Polyzone EPA# 432-1514 | Deltamethrin |
| Termidor Foam EPA# 499-563 | Fipronil |
| Termidor SC EPA# 769-210 | Fipronil |
| Vendetta Nitro Cockroach Gel Bait EPA# 1021-2593 | Abamectin B1 + Pyriproxyfen |

تلسي کولای شئ ددې آفت وژونکو په اړه نور معلومات د آفت وژونکو په څلګه کي د آفت وژونکو په څلګه کي د آفت وژونکو کارول کمول د مقرراتو ویب پاڼه کي وګورئ:

www.cdpr.ca.gov

تلسو کولای شئ د ښووني او روزني مدیریت اړوند د آفتونو یو نظ د سکول په سایټ کي وګورئ او یا یې په لاندې لینک کي وګورئ:

www.scusd.edu/post/integrated-pest-management

که کومه پوښتنه لرئ مهرباني وکړئ د لاندې ادرسونو سره اړیکه ونیسئ:
د خطر او معلولیت دفتر شمیره: 916-643-9421 او یا
RiskM@scusd.edu ته ایمیل وکړئ.

ددې کتاب په وروستي مخ کي، ممکن والدین کولای شي چي د خپل ښوونځي نه د مخکنیو آفت وژونکو موادو نوټس غوښتنه وکړي. که والدین وغواړي چه د آفت وژونکو موادو نوټس ده ته هر وخت راولیږل شي او هر وخت یې ډک کړي نو آخرنی پاڼه دې ډکه کړي او بیرته دې ښوونځي ته واپس کړي. ( د زده کړي کوډ §§ 48980.3 او 17612 )

### د اسبیسټوس مدیریت

د ښوونځي په ودانیو کي د ایسبیسټوس لرونکي موادو لپاره د مدیریت تازه پلان د ښووني او روزني مدیریت په دفتر کي شتون لري. (40C.F.R.763.93)

د سکریمنټو ښار د ښووني او روزني مدیریت د ضرورت وړ تفتیشونه تر سره کوي او د ځواب ویلو لپاره اړین اقدامات تر سره کوي. د د اورورا چاپیریال خدمتونو شرکت په دې وروستیو کي په 2022 کال د اپریل میاشت کي درې-کلن تفتیش ترسره کړ. د AHERA لخوا د ضرورت په لیدلو سره د چاپیریال مشورتي شرکت د اسبیسټوس مشاورین تصدیق کوي چي داسي تفتیش تر سره شي. پلټونکي او څیړونکي د ټولو شکمنو ایسبیسټوس موادو حالت او د موادو د خطر احتمال، نمونه او ارزوني څېړنه وکړي. د پخوانیو تفتیشونو ریکارډونه او د لابراتوار تحلیلونه د ایسبیسټوس مدیریت پلان تازه کولو لپاره کارول شوي. د مدیریت پلان سره سم، مونږ به د خپلو تاسیساتو کارکونکو ښوونه او روزنه تازه کړو. پلانونه او طرز العملونه به تازه کړو چي د ایسبیسټوس د موادو ګډوډي، لیرې کولو، ترمیم، او څارني پلانونه چي د ایسبیسټوس مواد لري، را کمه کړي.

## نوم لیکنه/ ثبت نام

پرته له مهاجرتي وضعیت، یا مذهبي عقیدې، هر ماشوم حق لري چي وړیا عامه زده کړي حاصلي کړي.

### د نوم لیکني/ثبت نام مرکز

کورنی دیته اړ دي چه د نوم لیکني/ثبت نام مرکز ته ولاړ شي چه د ښوونځي د داخلیدو یوه سرچینه ده او کولای شو چي د داخلیدو مرحلي پکي بشپړ کړو. کورنی کولای شي چي زده کونکي شامل کړي، د تبدیلۍ اسناد تحویل کړي، او د نوم لیکني د پیل پر وخت نوم لیکنه وکړي،

زده کونکي حق لري چه په خپل اصلي ښوونځي کي پاتي شي (که دوی غوره وکړي) او سمدستي په نوي ښوونځي کي شامل شي( پرته له صحي او تعليمي سوانحو څخه).

( 4855.5-48850 § تعليمي کوډ). که غواړئ چه د کم عمره ماشومانو د پالني او ساتني په هکله لازيات معلومات او خدمتونه تر لاسه کړئ ، نو د ښوونې او روزنې مديريت د کم عمره ماشومانو د پالني او ساتني د کورډيناټور عاليه هولمس سره په 7991-643-916 (د دفتر شميره) او يا په 3579-752-916 ( ټيليفون شميره) اړيکي ټينګي کړئ، او يا هم لاندې لينک وګورئ

www.scusd.edu/foster-youth-services

### د ځانګړي ښوونځي غوښتنه

والدين يا سرپرست حق لري چي د ځانګړی ښوونځي غوښتنه وکړي او د ښوونې او روزنې مديريت څخه ځواب واوري. د ښوونې او روزنې مديريت مکلف ندی چه دا ډول غوښتني دې هرومرو ومني.

[51101 (a)(6) § تعليمي کوډ]

### د بديل ښوونځيو خبرتيا

د کليفورنيا ايالت قانون د ښوونې اوروزنې ټولو مديريتونو ته اجازه ورکوي چې بديل ښوونځي برابر کړي. د ښوونې او روزنې د تعليمي کوډ 58500 د مادې د ځانګې بديل ښوونځي داسي تعريف کړي دي چه د عادي ښوونځيو څخه جلا په خاص ډيزاين مخ ته يووړل شي چه په لاندې ډول دي:

- د زده کونکو لپاره د پرمختګ ذريعه ده چې زده کونکو ته پر ځان د اعتماد ، نوښت، شفقت او رحم، پر خپل ځان باور زياتيدل، خپله خوښي، زړورتيا، خلاقيت، مسؤليت او خوښي ورکوي ؛
- دا بايد وپيژندل شي چه زده کونکي هغه وخت غوره زده کړه کولای شي چي کله زده کونکی په خپله خوښه او رضا يو درس زده کړې ته ځان چمتو کړي؛
- د زده کړې د وضعيت ساتنه تر څو د زده کونکی ځان هڅونه لوړه کړي او پر خپل ټاکلي وخت زده کونکي وهڅوي چي خپلې ګټې تعقيب کړي او دا ګټې د زده کونکو لپاره کيدای په بشپړه توګه او په آزاده توګه تصور شي او يا په يوه برخه کي تصور شي کوم چي د ښوونکو لخوا د زده کړې پروژو ټاکلو لخوا د وړانديز او پريزنټيشن برخه وي؛
- د ښوونکو، مور او پلار، او زده کونکو لپاره ددې فرصت ډېر لوړ کړو چي په شريکه توګه د زده کړې پروسي او د هغې موضوع ته وده ورکړو. دا فرصت بايد يو دوامداره او تل تر تله وي او هر وخت يې حمايه کړو؛
- د زده کونکو ، ښوونکو او مور پلار لپاره دا فرصت ډېر لوړ کړو چي پر دوامداره توګه د بدليدونکي نړۍ سره سم خپل غبرګون وښايو، او يواځې پر هغې ټولنې پورې محدوديت ونلري کوم موقعيت کي چه ښوونځي واقع وي.

په هغه صورت کي چي مور او پلار، زده کونکی، يا ښوونکی ليوااله وي چي د بديل ښوونځيو په اړه نور معلومات، د کاونټي د بديلو ښوونځيو عمومي رئيس، د ښوونې او روزنې مديريت اداري دفتر، او د مدير دفتر چېرته چي د حاضرۍ نقل د تل لپاره موجوده وي، تاسو معلومات لاس ته راوړلای شئ.
دا قانون هغو اشخاصو ته اجازه ورکوي څوک چي د ښوونې او روزنې مديريت دولتي بورډ څخه د بديل ښوونځي غوښتنه او پيشنهاد په هر مديريت کي وړاندې کړي.
له دې نه علاوه، يوه کاپي يا نقل بايد په عادي ډول لږ تر لږه په دوو ځايونو کي وځړول شي چي زده کونکو، ښوونکو او والدينو ته د ليدلو او کتلو يو مناسب ځای وي او د کال د مارچ په مياشت کي تر ي ليدنه وشي. (58501 § تعليمي کوډ]

### د ښوونې او روزنې د مديريتونو تر منځ ټرون

د سکريمنټو د ښوونې او روزنې مديريت او نورو مديريتوننو ترمنځ د حاضرۍ ټرون د مديريتون ترمنځ ټرون دی.

4. د زيږيدو تصديق پاڼه: سيمه ييز تصديق يا د ولسوالی نه صادره تذکره، د کليسا لخوا تصديق شوې د زيږيدو تصديق پاڼه، يا پاسپورټ؛ کله چي پورته ياد اسناد نه وي نو والدين/سرپرست کولای شي چه د ماشوم د عمر د ثبوت لپاره هر مناسب سند بايد وښايي ( 48002 § تعليمي کوډ )

### د بې کوره زده کونکو نوم ليکنه

بې کوره زده کونکي حق لري چه په خپل اصلي ښوونځي کي پاتي شي او يا سمدلاسه خپل کورني ښوونځي کي شامل شي (چه ددوی خوښ او ګټور وي)، اګر که ددوی سره د داخليدو ټول اسناد هم نه وي. دوی نور حقوق او خونديتوبونه هم لري. د بې کوره زده کونکو په هکله د لا زياتو معلوماتو تر لاسه کولو لپاره او هم د هغوی د حقوقو څخه د ځان خبرولو لپاره د ښوونې او روزنې مديريت د بې کوره زده کونکو پروګرام دفتر سره په 2450-643-916 شميره اړيکه ونيسئ او يا لاندې ويب پاڼې وګورئ:

Homeless-services@scusd.edu

www.scusd.edu/homeless-services.

### آزاد

آزاد زده کونکي هغه زده کونکي دي چي د دوی استوګنځای د ښوونځي د حدودو په داخل کي موقعيت لري او والدين/سرپرست څخه د زده کونکو مسؤليت، کنټرول او د هغوی په حق کي مداخلت اخيستل شوی وي معنی داچه دوی د خپلو ماشومان سره هيڅ سروکار حق نلري. [(B4) 48204 § تعليمي کوډ]

### د ښوونې او روزنې مديريت کي دننده کول

پر ځينو وختونو کي، که چيرې تاسو د ښوونې او روزنې په يو مديريت کي کار کوئ او ددې مديريت په مربوطه منطقه کي نه اوسيږئ او د خپل ماشوم نوم ليکنه په همدې مديريت کي وکړئ ، نو مديريت حق لري چه ستاسو دغه نوم ليکنه مسترد کړي [(b) 48201 § تعليمي کوډ]

### پرورش کونکی/ساتونکی

دا هم امکان لري چه يو زده کونکی د يو بالغه ساتونکي/پالنه کوني شخص په کور کي ژوند وکړي چه کور يې د ښوونځي په منطقه کي موقعيت ولري هر هغه څوک چي دا دعوه لري چه يو زده کونکی د ساتونکي/پالونکي په کور کي اوسيږي مګر د ښوونې او روزنې مديريت د رښتيني پلټنو وروسته حقيقتونه را څرګند کړل چه زده کونکی د هغه په کور کي ژوند نه کوي نو 11 قانون د 1.5 مادې د پر اساس د قسم او جزا قانون د تطبيق له مخې مجازات کيږي.[(a)(5) 48204 § تعليمي کوډ] تنسيق او آخرنی نمرې شاملې دي. که چيرې والدين /او پالونکی/ ساتونکی د حقايقو د معلومولو په چارو کي د ښوونې او روزنې مديريت سره په همغږی کي پاتي راشي، نو تعهد، قرارداد يا قسم لغو کيدای شي. ددې په هکله د لازياتو معلوماتو لپاره د نوم ليکنې مرکز ته په 916-643-2400 شمېره اړيکي ونيسئ.

### د کم عمره ماشومانو پالنه/ساتنه

دا پريکړه د هغو زده کونکو لپاره ده چې د ښوونې او روزنې مديريت په حدودو کي په منظم ډول جواز لرونکي موسسه، د جواز لرونکي رضاعي کور، يا د محکمې د حکم پر اساس جاري شوی وي. [(a)(1)(A) 48204 § تعليمي کوډ] د 490 AB مادې له مخې،

**د مور او پلار/پالونکي لپاره لارښوونې: چه ماشوم پر خپل ټاکلي وخت ښوونځي ته ورسيږي:**

- د خپل ماشوم څخه ښه ځان متيقن کړئ چه وختي بستري ته د ويده کيدو لپاره ولاړ شي او ښه خوب وکړي.
- د سهار لخوا عادت جوړ کړئ (جامې واغوندئ، ناشته وخورئ، غاښونه برش کړئ) او دا کار هميشه لپاره وکړئ
- د خپل ماشوم سره هره ورځ د علمي بريالیتوب په اړه خبرې وکړئ.
- د خپل ماشوم د کورنی دندې پوره کولو لپاره هره شپه بې له کوم خنډ نه وخت ورکړئ.

منظمه حاضري د علمي بريالیتوب کلي (کُنجي) ده!

ملي او محلي څیړنو ښودلې ده چې د زده کونکي په مکرر ډول غیرحاضري، که د ښوونځي د اجازې سره وي او که بدون د اجازې وي، د زده کونکي د لوستلو کچه ټیټوي، نمرې یې خرابوي، او د اوچتو نمرو شاګردانو څخه یې ټیټې درجې ته راکوزوي او یو زده کونکی چه هره ورځ سکول ته ځي هیڅ درجه یې نه خرابیږي. د SCUSD ټول زده کونکي هدف لري چه 96% سلنه نمرې تر لاسه کړي چه ده 7 ورځې غیر حاضري لري.

د SCUSD د اداره کولو بورډ پدې باوري دی چې هره ورځني حاضري د زده کونکي په لاس ته راوړنې کې مهم رول لوبوي. بورډ د مور او پلار/سرپرستو او زده کونکو سره کار وکړي تر څو د دولت د حاضری د ټولو قوانینو سره د دوی اطاعت ډاډمن کړي او ممکن د وروستي حل په توګه د مناسب قانوني وسیلو په ګډون د III درجې مداخلې څخه کار واخلي چې د اوږد مهاله غیر حاضری او / یا خیانت(د ښوونځي نه د تېښتې) ستونزو سمولو کې مرسته وکړي. د زده کونکو غیر حاضري په دوامداره توګه 10% سلنه(فیصده) ټاکل شوي ده چې په میاشت کې 2 ورځې غیر حاضري ترې جوړیږي، که دا غیر حاضري قانوني وي او که په خپل سر وي او یا په تعلیق پورې اړه لري. [(1)(c)60901 § تعلیمي کوډ]

**د حاضری خبرتیاوې**

د زده کونکي کورنی د اوږدمهاله غیر حاضری پر وخت د رسمي خبرتیا خط تر لاسه کوي چې یکې د زده کونکی قانوني، غیر قانوني او د خیانت ټولې غیر حاضري ور ښایي. (SCUSD AR 5113) له دې نه علاوه، کورنی به د غیرحاضری راپورونه او نورې خبرتیاوې تر لاسه کړي ترڅو تاسو ته ډاډ درکړي چې د حاضری ډیټا په منظمه توګه کورنیو ته وښایي او تاسو دغه د حاضری او غیرحاضری راپور د مدیریت ویبسایټ کې د انفینټ کیمپس کې د والدینو پورټل کې کتلای شئ.

**د SCUSD د غیرحاضری قانوني پروسه**

دSCUS د ټولو غیر حاضریو چې (قانوني/ښنل شوې، غیر قانوني/پخپل سر، او خیانت/ د ښوونځي څخه د تېښتې وي ټولې ښکاره کوي. دا کړنې د مناسبو مداخلو سره په ګډه سرته رسیږي تر څو د زده کونکي ملاتړ وشي او د ښوونځي د ښه حاضری په وړاندې د خنډونو په لرې کولو کې مرسته وکړي.

- **اول خبرګون**
  په اتوماتیک ډول زنګ/ پیغام/ بریښنالیکونه(ایمیل) کور ته استول کیږي
- **دوهم خبرګون: دریمه غیر حاضري**
  د ښوونځي د کارکونکو لخوا د زده کونکی کور ته زنګ وهل کیږي چې د غیر حاضری په هکله پوښتنه وکړي.
- **دریم خبرګون: پنځمه غیر حاضري**
  د غیر قانوني پخپل سرې رخصتې پرمهال د زده کونکي کور ته د غیر حاضری د اخطار خط استول کیږي
- **څلورم خبرګون: اوومه غیر حاضري**
  د ښووني او روزنې مسؤل د زده کونکي کور ته ځي او د حاضری د اهمیت په اړه د کورنی سره غږیږي

دا هم کیدای شي چه یو زده کونکی د خپلې د استوګنې ولسوالی نه پرته په بلې ولسوالی کې ښوونځي ته ولاړ شي. د لازیاتو معلوماتو لپاره د نوم لیکنې مرکز سره په 916-643-2400 شمېرې اړیکې ټینګې کړئ. د ولسوالیو د مدیریتونو تر منځ د پرمټ په اړه خورا زیات او بشپړ معلومات تر لاسه کولو لپاره دا [تعلیمي کوډ 46600 §] وګورئ.

**د مدیریت داخل کې پالیسي او مقررات**

د سکریمنټو ښار اوسیدونکو د ښووني او روزنې مدیریت پر داخل کې د ښوونځیو تر منځ د حاضریدو ته د مدیریت په داخل کې پالیسي وایي.

د زده کونکي کورنې ښوونځي او یا د نوم لیکنې مرکز سره د اپلیکیشن د ډکولو په هکله معلومات تر لاسه کړئ. [ (b) 35160.5 § تعلیمي کوډ]

## حاضري او مشغولیت

**د زده کونکو د حاضری او مشغولیت دفتر**

**دفتر: CARE TEAM**

وګورئ: care.scusd.edu
(https://care.scusd.edu/student-attendance-engagement/)

د SCUSD ولسوالی مدیریت کارکونکي د زده کونکو د حاضری مسئولیت لري چه دغه ټیم د CARE ټیم په نامه یادیږي. CARE د نښلولو، پوښتنه کولو، تړاول لرلو او ښکېلتیا کلیمو څخه مخفف شوی یا لنډ شوی دی. د نورو ولسوالیو د مدیریت د څانګو په څېر، د حاضری او شغل په اساس، دفتر د څو اړخیز سیستم (MTSS) چوکاټ څخه کار اخلي ترڅو د ښوونځیو څخه ملاتړ وکړي او زده کونکي، کورنی او SCUSD ټولنې ته د اوږدې غیر حاضری منفي اغیزو په اړه روزنه ورکړي. او د زده کونکو په اوږد مهاله بریالیتوب کې د ښوونځي د مثبت ښکېلتیا اهمیت ورپه ګوته کړي.

**د لیدو وضاحت:** د زده کونکو، کورنی او د ټولنې سره مستندې اړیکې زمونږ د کار اصلي موخه ده چې د اوږدې غیر حاضری کمولو، د زده کونکو ښکېلتیا زیاتول، او د ټولو زده کونکو د زیان د مخنیوي لپاره علمي بریالیتوب په نظر کې نیول شوی دی.

**د سپتمبر میاشت د حاضری د ښودلو میاشت ده**

SCUSD په رسمي ډول د سپتمبر میاشت د حاضری د ښودلو او خبرولو میاشت په توګه اعلان کړې ده. ددې میاشتې په جریان کې د ښووني او روزنې مدیریت د زده کونکو، کورنیو او ټولنې د ښکېلتیا د ښه کولو لپاره د پراخو فعالیتونو، هڅو او تعلیمي فرصتونو ملاتړ کوي چې له امله یې ښوونځي ته ښه حاضري وده ورکوي. مهرباني وکړئ د هرې ورځ د حاضری، پر وخت ښوونځي ته راتلل، او زده کړې ته ځان چمتو کولو په هکله د زده کونکو سره اهمیت شریک کړئ. د ښوونځي د حاضری د اهمیت او سرچینو د مرستې په هکله دې لینک سره په ارتباط کې شئ:

https://www.attendanceworks.or

**د ښوونځي د حاضری اهمیت**

د کلیفورنیا د قانون پر اساس هر ماشوم چه عمر یې د 6 او 18 کلونو تر منځ وي، باید هره ورځ ښوونځي ته ولاړ شي. پداسې حال کې چه دا قانون د شپږو کلونو څخه کم عمر ماشومانو باندې نه عملي کیږي، څیړنې داسې ښایي چه لومړنی زده کړې(پرې سکول او وړوکتون) د راتلونکي علمي بریالیتوبونو لپاهر ضروري دي. د کوویډ څخه وروسته د زده کونکي لپاره دا ډیر مهم کار بلل کیږي چه حاضر وي.دا د مور او پلار/پالونکي مسؤلیت دی چه ددوی ماشوم باید هره ورځ ښوونځي ته حاضر کړي. په ښوونځي کې خپل ماشوم په ساتلو کې د مرستې لپاره، او یا هم که تاسو د ښووني او روزنې د مدیریت د حاضری پالیسی په هکله پوښتنه لرئ، مهرباني وکړئ د زده کونکو د حاضری او ښکېلتیا د ټیم سره په 916-643-2121 شمېره زنګ ووهئ او یا دا ویبسایټ وګورئ: care.scusd.edu

3. د ناروغۍ له کبله په تکليف، د غاښونو د درد، نظري او کيروپراتيک خدمتونو وړاندې کولو د هدف لپاره
4. د يو چا د جنازې په مراسمو کې ګډون کول چې مړی د زده کونکي نژدې فاميل وي که چيرې جنازه په کليفورنيا کې تر سره کيږي نو زده کونکی بايد د يوې ورځې څخه زياته غير حاضري ونکړي او که د کليفورنيا څخه د باندې جنازه وي نو زده کونکی بايد له دريو ورځو څخه زياته غير حاضري ونلري.
5. د قضايې دنده چه د قانون لخوا تصويب شوې وي.
6. طبي، د غاښونو، سترګو، او يا د عضلاتو او مفاصلو جوړونو د دردونو ملاقاتونه چې جوړ شوي وي او يا د والدينو او يا سرپرست ملاقات په زندان کې، دداسې غير حاضرۍ لپاره ډاکټر نوټ ته اړتيا نشته.
7. د توجيه وړ شخصي دلايلو لپاره، په محکمه کې حاضريدل، د جنازې په مراسمو کې ګډون، د رخصتۍ يا د زده کونکي د مذهب په مراسمو کې ګډون، په مذهبي اعتکاف کې ګډون، د کار موندنې په کنفرانس کې ګډون، يا په يوه غونډه کې ګډون او داسې نور. د زده کونکي غير حاضري د والدينو/سرپرست په ليکلي ډول د ښوونځي د مدير په اجازې سره رخصتي وکړي او د ښوونې او روزنې مديريت په جريان کې شي.
8. د ټاکنو د تعليمي کوډ 12302 § سره سم د ټاکنو لپاره د سيمه ايز بورډ د غړي په توګه د خدمت کولو هدف لپاره
9. د زده کونکی د نږدې کورنۍ د يو غړي سره د وخت تيرولو لپاره، چې د يونيفارم خدمتون فعال غړی دی، لکه څنګه چې په 49701 برخه کې تعريف شوی او د دندې لپاره بلل شوی، رخصت شوی دی، او يا سمدستي بېرته راستون شوی، د جنګي زون يا د جنګي ملاتړ موقعيت ته ځای پر ځای شوی دی. نو د زده کونکي غير حاضري د ښوونې او روزنې د مديريت سرپرست سره شريکه شي.
10. د متحده ايالاتو د اتباع کيدو لپاره د زده کونکی د تابعيت په مراسمو کې د ګډون په هدف غير حاضر شي.
11. د خپلو عناناتو او کلتوري غونډو کې د ګډون له امله غير حاضر شي.
12. د ښوونځي د مديريت په اختيار غير حاضر کيدل

په آخر کې بايد ووايو چې، که د يو زده کونکي غير حاضري د زنداني شويو والدينو او يا سرپرست له امله وي نو د درسي ساعتونو په دوران کې د زده کونکي غير حاضري قانونی حسابيږي.

د غير حاضرۍ فورم يواځې د زده کونکي والدينو/سرپرست لخوا اخيستل کيږي او که زده کونکی اتلس کلن او يا لوی وو نو له دغه ځوان څخه هم اخيستل کيږي.

### دغيرحاضرۍ په صورت کې د کورنيو دنده پوره کول

غير قانوني(پخپل سر غير حاضري)هغه زده کونکی چه د عذر له امله له ښوونځي څخه غير حاضر وي بايد اجازه ورکړل شي چې ټولې کورنۍ او صنفي دندې او ازموينې چې د غيرحاضرۍ له امله يې د لاسه ورکړې وې، په معقول ډول پوره کړي او د قناعت وړ بشپړيدو سره ورته پوره کريډيټ ورکړل شي. د هغه ټولګي ښوونکی چه زده کونکی يې غير حاضر وي بايد مشخص کړي چې کومې ازموينې او دندې په معقول ډول سره مساوي وي مګر اړينه نده چې د هغه ازموينې او دنده سره ورته

- **پنځم غبرګون: مسلسل پخپل سر غير حاضري**
  د ښکېلتيا ملاتړ ميټنګ(غونډه) ټاکل شوې چې پکې د ښکېلتيا ملاتړ پلان (ESP) د کورنۍ سره جوړ شوی
- **پرله پسې پخپل سر غير حاضري او د** (ESP) پلان څخه سرغړونه د بيا رغونې SARB غونډه بايد وټاکل شي

### که يو زده کونکی حتماً غير حاضر وي بايد څه وکړو

ټول زده کونکي د ښوونځي په رسمي درسي کال کې 5 ورځې وخت لري چې غير حاضريانې پکې پاکې کړي چې کله زده کونکی ښوونځي ته د غير حاضرۍ نه راستون شي. که يو زده کونکی خپله غير حاضري په پنځوو ورځو کې پاکه نکړي نو د ادارې لخوا به د زده کونکي کور ته د غير قانوني رخصتۍ يو خط ورواستول شي.

که زده کونکی کور کې نور هم پاتې کيدل غواړي، نو والدين يا سرپرست بايد لاندې کارونه سر ته ورسوي:

1. زنګ ووهئ، په شخصي توګه د کارکونکو سره خبرې وکړئ، او يا د ښوونځي د حاضرۍ کارکونکو ته ايميل وکړئ، خپل ځان د زده کونکي د پلار او مور /سرپرست په توګه ورو پيژنئ
2. يو نوټ وليکئ او د غيرحاضرۍ علت پکې واضحه کړئ او کله چې زده کونکي ښوونځي ته ځي د ځانه سره دې ستاسو ليکل شوی نوټ يوسي.
3. د **غيرحاضرۍ** د رپورټ فارم وسپارئ، چې دا فارم د مديريت معارف په ويبسايټ کې موندلای شئ.

په ټولو پورتنيو طريقو کې بايد لاندې معلومات شامل وي او په انفنينټ کيمپس سايټ کې ځای پر ځای او مستند شي:

- د زده کونکي نوم
- د مور او پلار/سرپرست نوم
- د غير حاضرۍ نېټه (ې)
- د غير حاضرۍ علت / سبب

د تاييد نورې طريقې هم شاملې دي مګر لاندې ټکو ته محدود ندي:

- د زده کونکي کور ته د SCUSD د يو کارکونکي لخوا ليدنه، او يا بل کوم معقوله طريقه چې دا حقيقت پيدا کړي چې زده کونکی په څه دليل غير حاضر وو.
- د پورته معلوماتو په شمول د ډاکټر تصديق.

کله چې يو زده کونکی په درسي کال کې 10 ورځې غير حاضري ولري چې د مور او پلار/سرپرست لخوا تاييد وي، نو د ناروغۍ نورې غير حاضري ګانې بايد د ډاکټر لخوا تاييد شي.
د زده کونکو د غير حاضرۍ تاييد يواځې د مور او پلار/سرپرست/پالونکي او يا که د زده کونکي عمر 18 کاله او يا له دې څخه زيات وي نو تاييد يې قبليږي.

### قانوني يا د عذر پر وخت غير حاضري (AR 5113)

د (a).48205 مادې پر اساس يو زده کونکي غير حاضري د لاندې دلايلو له مخې چې په تعليمي کوډ48205 کې ښودل شوي، معاف کيږي:

1. د زده کونکي غير حاضري د ناروغۍ په اساس او يا زده کونکی عصبي او رواني تکليفونه لري. د ايالت بورډ د زده کونکي د يادو ناروغيو لرونکو ته د مريضتيا د شتون په صورت کې ځانګړی فايل جوړ کړی چې زده کونکی د خپلو امتيازاتو څخه ګټه تر لاسه کړي.
2. د ولسوالۍ او يا د ښار د روغتيايي چارو مسؤل د حکم پر اساس قرنطين شوی زده کونکی

د ESP غونډه د ښوونې او روزنې مديريت د غيرحاضرۍ پروسې په پنځمه مرحله کې ترسره کيږي چې د ډيرو هڅو وروسته د لږ ژور پوهاوي سره په هغه صورت کې وړاندې کيږي چې زده کونکی له شپږو ورځو څخه زياته غير حاضري ولري او ټولې مخکنی هڅې د حاضرۍ په ښه کولو کې پاتې راغلې.

## د زده کونکو د حاضرۍ د بيا حسابي کولو عاجل بورډ (SARB )

د ښوونځي د حاضرۍ بيا کتنې بورډ د غونډې هدف د هغو زده کونکو لپاره د حاضرۍ د ښه کولو د بيا رغونې تمرين طريقه کارول دي کوم زده کونکي چې بې اعتماده او يا په دوامداره توګه غير حاضر ګڼل کيږي او د هغوی غير حاضري د لس سلنې څخه زياته وي او يا يې پخپل سر غير قانوني غيرحاضري کړې وي. تحقيقاتو دا ثابته کړې ده چه يو زده کونکی په مسلسل ډول دوه ورځې په مياشت کې غير حاضري ولري نو خپل هدف ته په رسيدلو کې مشکلات لري او دوی ضرور د رواني، خفګان او عصبي تکليفونو ښکار شوي وي. دا غير حاضري د زده کونکي په تعليمي برياليتوبونو باندې منفي اغيزه لري او په راتلونکي کې د برياليتوب د ژوند څخه بې برخې پاتې کيږي.

د زده کونکو د حاضرۍ د بيا حسابي کولو بورډ د غونډې هدف د ښوونځي/کورنۍ اړيکې پياوړې کول، کورنيو ته ددې فرصت ورکول چې مسئلې او اندېښنې وپيژنې پداسې حال کې چې د دوی څواک ومنې او د شرايطو ښه کول هدف دی چې زده کونکي ښه حاضري ښوونځي ته ورکړي.

د يو بل سره د همکارۍ له لارې سايټونه، د ټولنې شريکان او کورنۍ په ګډه کار کوي ترڅو اوسنيو اندېښنو ته ممکنه حل لارې وټاکې او داسې پالنه رامنځته کړي چې پايله يې د حاضرۍ ښه والی او د مثبت تعليمي لاسته راوړنو لامل ګرځي. ځان خبرونه او حسابي ورکول هم د زده کونکو د حاضرۍ د بورډ يوه برخه ده خو د ځوانانو او کورنيو د بدلون د کارولو يوه نمونه ده چې ځينې کورنۍ ددی بدلون مخالف وي.

يو زده کونکی هغه وخت SARB ټيم ته راجع کيږي کله چې د ښوونځي په ساحه کې ټولې عملي طريقې ناکامه شوې وي.

کورنۍ به د د SARB ټيم کورنۍ مدافع وکيل سره د SARB ټيم څخه د مخه کور کې ليدنه ولري.

د زده کونکو د حاضرۍ د بيا حسابي بورډ د غونډو په جريان کې ټول ګډونوال د ګردې ميز په شکل کې راټوليږي او د ټولو ګډونوالو ته په مساوي توګه د بيا رغونې تمرين ميتود روښانه کوي.

دا ښه د کورنۍ لپاره د مجازاتو محکمې خونې په څېر احساس ورکوي څکه چې دوی ممکن د ناستې د دليل په اړه د خفګان او اندېښنې احساس وکړي.
د زده کونکو د حاضرۍ د بيا حسابي بورډ به د غونډې عنوان او موخه روښانه کړي، د ګډونوالو به يو تر بل سره پيژندګلوی وشي ، او د غونډې اسانتياوې به برابرې کړي.

د ښوونځي مدير به د زده کونکو د حاضرۍ ريکارډ شريک کړي او د زده کونکو د حاضرۍ د بيا حسابي بورډ مسئول به د بيا رغونې پوښتنې د زده کونکو د کورنيو څخه وکړي. مسئولين خبرو او پوښتنو ته غوږ نيسي او بيا پوښتنې کوي. د حل په ليارو باندې بحث کوي چې په پای کې د بيا رغونې د بورډ ټيم سره يوې موافقې ته رسيږي.

د زده کونکو د حاضرۍ د بيا حسابی بورډ د کورنۍ، ښوونځي او د ښوونې او روزنې مديريت ترمنځ د بيا رغونې تړون لاسليک کوي. د بيار رغونې د تړون يو نقل د زده کونکي مور او پلار او يا سرپرست ته ورکول کيږي.

وي چې زده کونکي د غير حاضرۍ پرمهال له لاسه ورکړي.

هغه زده کونکي چې غير حاضري يې قانوني او عذريې د قبلولو وړ وي، د ورکول شوي دندې پوره کولو لپاره وخت ورکړل شي چه بشپړ يې کړي. له زده کونکو توقع لرو چې د اوږدمهالي دندې د پوره کولو چارې تر سره کړي چې په اصل کې ټاکل شوې. د يو انفرادي زده کونکي د قضيې په قضيې لپاره ممکنه ده چې د سايټ مدير د قانوني اړتياوو پر اساس يو مناسب پلان راجوړ کړي.

## اوږد مهاله غير حاضري

د کلفورنيا تعليمي کوډ 60901 پر اساس بغير له عذره غير حاضري هغې ته وايي چه يو زده کونکی لس سلنه او يا له دې څخه زياته غيرحاضری د ښوونځي په رسمي ورځو کې ولري چې دغه غير حاضري د ټول کال په رسمي ورځو تقسيم کړئ او دا له هغې ورځې څخه حسابيږي د کومې ورځ څخه چې زده کونکي په ښوونځي کې شامل شوی دی او په دې ورځو کې شنبه او يکشنبه نه حسابيږي.

## غير قانوني غير حاضري

غير قانوني غير حاضري ديته وايي چې يو زده کونکی د ښوونځي څخه پخپل سر يوه ورځ او يا نيم ساعت غير حاضر شي او يا سم عذر ونلري.

پخپل سر يا غير قانوني غيرحاضري ګاڼې:

- د ټولګې څخه بغير د معقول دليل نه ورکېدل، که دا ورکېدل د زده کونکي وي او يا د مور او پلار/سرپرست/پالونکي لخوا پيل شوي ( د مثال په ډول د ماشوم پاملرنې يا د کورنۍ پيرود لپاره )
- هغه غير حاضري چې مخکې له مخکې تصويب ته اړتيا لري او د غير حاضرۍ څخه د مخکې تصويب نه وي ترلاسه شوې.

## پخپل سر له ښوونځي څخه ورکېدل او غايب کېدل

کله چې يو زده کونکی پخپل سر د ښوونځي څخه ورک او يا غير حاضر شي نو د ښوونځي اداره هرومرو د زده کونکي مور او پلار او يا سرپرست ته يو خط ورليږي چې ستاسو ماشوم پخپل سر رخصتي کړېده. زمونږ د ادارې د مثبتې پاليسۍ پر اساس مونږ بايد د شاګرد اړتياوې پوره کړو او يا مالي جريمې تر لاسه کړو چې زمونږ زده کونکو ته نور زيان ورسيږي.
اول خط: کله چې يو زده کونکی درې ورځې پخپل سر غيرحاضري ولري، او يا د ټولګې څخه پخپل سر له 30 نه د زيات وخت لپاره ورک شي، نو د ښوونې او روزنې مديريت والدينو/سرپرست ته يو ليک استوي او خبر ورکوي چه ستاسو ماشوم د ورکيدو د خيانت په توګه پخپل سر غايب شمېرل شوی

## د ښکيلتيا د ملاتړ پلان (ESP)

د ښکيلتيا د ملاتړ پلان ميټنګ دا فرصت برابروي چط د اوږدې مودې غير حاضر زده کونکو کورنيو سره خبرې وکړو او هغوی ته روښانه کړو چې حاضري د زده کونکي ژوند او ښوونځي ته بريا راوړي او مثبته اغيزه لري. په دې ميټنګ کې د ګروپ د ټاکنې سره د حاضرۍ لاملونه ښود کيږي او کونی ته زده کونکی بايد حاضرۍ ته وننګوي. په همدې ډول کورنۍ ته سرچينې روښانه شي چې د زده کونکي حاضري ښه کولو څرنګوالي په اړه موافقې ته رسيږي. د ښکيلتيا د ملاتړ پلان د ښوونځي او کورنۍ تر منځ په فعاله توګه کوښښ کوي چې د زده کونکي حاضري ښه کړي مخکې لدې چې حاضري د اندېښنې سبب شي.

که ځوک د داخلي امید لري، کولای شي چې د سکولاسټیک اسیسمنټ ټیسټ (SAT)/ امیریکن کالج ټیسټ (ACT) د نمرو نتیجه وسپاري خو دا به د داخلي د اهدافو لپاره نه کارول کیږي. ولې بیا هم که چیرې ومنل شي نو امکان دې ولري چې د لومړي کال د کورس پر ځای کولو لپاره وکارول شي.

د SCU پوهنتون د داخلي د شرایطو لپاره دا ویب سایټ وګورئ:

https://www2.calstate.edu/apply

د UC پوهنتون د داخلي د شرایطو لپاره دا ویب سایټ وګورئ:

http://admission.universityofcalifornia.edu/

د HBCU پوهنتون د داخلي د شرایطو لپاره دا ویب سایټ وګورئ:
https://hbculifestyle.com/category/parents/

د خپلواکه کالجونو او پوهنتونو د داخلي په اړه د زیاتو معلوماتو لپاره له دې لینک څخه لیدنه وکړئ:https://www.aiccu.edu/

| | **د A-G پورې اړتیاوې او شرایط** | |
|---|---|---|
| ۲ کلن ضرور دی | تاریخ/ټولنیز ساینس | **A** |
| ۳ کلن ضرور دی | انګلیسي | **B** |
| ۳ کلن ضرور دی او ۴ کلن وړاندیز دی | ریاضي | **C** |
| ۲ کلن ضرور دی او ۳ کلن وړاندیز دی | ساینسي لابراتوار | **D** |
| ۲ کلن ضرور دی او ۳ کلن وړاندیز دی | له انګلیسي نه پرته بله ژبه | **E** |
| ۱ کلن ضرور دی | بصري او عملي هنرونه(آرټ) | **F** |
| ۱ کلن ضرور دی | د کالج د اماده ګی انتخاب | **G** |

**د A-G پورې د اړتیاوو نور معلومات په لاندې لینک کې وګورئ:**
http://admission.universityofcalifornia.edu/freshman/requirements/a-g-requirements/index.html
مسلکي تخنیکي زده کړې ( CTE ) د کلیفورنیا لخوا پیژندل شوې د ښوونې او روزنې څانګه (CDE) د نومول شوي مضمونونو اعتبار او د یو مضمون اعتبار: د مسلکي تخنیکي زده کړو کورسونو کې د موضوع چمتو کولو او صنعت تجربې ترکیب پر اساس کارول کیږي. زده کونکي نور معلومات د CDE په هکله په لاندې لینک کې کتلای شي:
www.CDE.ca.gov.
د ښوونځي مشاورین د زده کونکو سره په انفرادي شکل د علمي کتنې لپاره دوباره لیدنه کوي. د انفرادي کنفرانس په جریان کې د ښوونځي مشاور باید زده کونکي، مور او پلار/ سرپرست ته د لاندې یادو ټکو څخه خبر ورکړي:

- پروګرامونه، کورسونه، او د مسلک تخنیکي زده کړو اختیارونه د لیسې د قناعت وړ بشپړولو لپاره شتون لري؛
- د زده کونکي ټول ریکارډ او ټرانسکریپټ؛
- د معیاري او تشخیصي ارزونو په اړه د زده کونکي فعالیت؛
- د درملني تګلارې ، د لیسي کورسونه او د زده کونکي لپاره د بدیل زده کړې اختیارونه شتون لري؛
- د ثانوي زده کړو او ټریننګونو په اړه معلومات.

په هر صورت، پینل واک لري چې د ضرورت په اساس زده کونکي او د ددوی والدین او یا سرپرست د محاکمې محکمې ته راجع کړي.

SARBټیم که چیرې مناسب وګڼي، ممکن د ټولني مختلف سازمانونه، د و الدینو مدافع وکیلان، د ښوونې او روزنې مدیریت ملاتړ چې د ارتباطي مرکز او د زده کونکو د ملاتړ مرکزونه، د سکریمنټو ولسوالۍ د بشري منابعو څانګه او د ماشوم ساتنې ډیپارټمنټ، د کورنیو او بالغانو د خدمتونو څانګه په قضیه کې شامل کړي. د SARB ټیم د پروسې په اړه د زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ په916-643-2121 شمیره زنګ ووهئ او یا لاندې ایمیل ته خط واستوئ:
onniel-sanchez@scusd.edu.

د حاضرۍ ناسم ریکارډ
49070. که چیرې والدین /سرپرست د خپل زده کونکي د حاضرۍ ریکارډ سره موافق نه وي دوی کولای شي د سمون غوښتنه وکړي. د زده کونکي مور او پلار او یا سرپرست کولای شي د ښوونې او روزنې مدیریت سرپرست ه یو لیکلی عریضه/دوسیه وړاندې کړي تر څو د زده کونکي په لیکل سوي ریکارډونو کې ثبت شوي کوم ناسم معلومات سم کړي او یا یې لیرې کړي چې والدین/سرپرست یې په لاندې ډول ادعا کوي:

1. ناسم معلومات
2. یو بې بنسټه شخصي پایله او یا مداخلت
3. د کتونکي د وړتیا څخه بهر یوه پایله یا مداخلت
4. د یاد شوي مشاهدې وخت او ځای سره د یو نامتو شخص شخصي کتنې پر اساس ندي.
5. ناسمه رهبري
6. د زده کونکي د نورو حقوقو د محرمیت څخه سرغړونه

د والدینو یا سرپرست د غوښتنې پر اساس د ښوونې او روزنې مدیریت دیرش ورځې وخت لري چې د حاضرۍ ریکارډ وګوري او د اړتیا په صورت کې د سمون لازم اجراءات وکړي.

### محرم طبي خدمتونه

کله چې یو زده کونکی د محرم طبي خدمتونو وړاندیز کوي او یا د خپل ډاکټر سره د اپواینمنټ(نیټې) خبر درکوي نو تاسو او یا بل کارکونکي د زده کونکي څخه د هغې محرم طبي معلوماتو پوښتنه مه کوئ بلکه د طبي دفتر سره اړیکه ونیسئ تر څو د ملاقات وخت تایید وکړي او زده کونکی خپل د ملاقات لپاره ډاکټر ته ولاړشي. په هیڅ وخت کې کارکونکي حق نلري چې د زده کونکي محرم طبي معلومات د هغه د مور او پلار / سرپرست او یا ساتونکي سره شریک کړي.
هغه زده کونکی چه د عذر له امله له ښوونځي څخه غیر حاضر وي باید اجازه ورکړل شي چې ټولې کورنۍ او صنفي دندې او ازموینې چې د غیرحاضرۍ له امله یې د لاسه ورکړې وي، په معقول ډول پوره کړي او د قناعت وړ بشپړیدو سره ورته پوره کریډیټ ورکړل شي. د هغه ټولګي ښوونکی چه زده کونکی یې غیر حاضر وي باید مشخص کړي چې کومې ازموینې او دندې په معقول ډول سره مساوي وي مګر اړینه نده چې د هغه ازموینې او دنده سره ورته وي چې زده کونکي د غیر حاضرۍ پرمهال له لاسه ورکړې.

### په کالج کې د داخلې اخیستلو لپاره شرایط

هغه زده کونکي چې د کلیفورنیا ایالت پوهنتون( California State Uniersity)
او یا د کلیفورنیا پوهنتون (University of California) کې داخله کول غواړي نو باید لږ تر لږه د A-G 15 تصویب شوي کورسونه په خاصو برخو کې پوره کړي. دواړه پوهنتونونه CSU او UC د GPA په اساس باندې د داخلې شرایط برابروي.

Sacramento City Unified School District

# په کالج کې د داخلې او فراغت شرایط او اړتیاوې

| د UC/CSU پوهنتون د A-G شرایط | | | SCUSD Graduation Requirements | |
|---|---|---|---|---|
| ساحه | مضمون | درسي کلونه | مضمون | درسي کلونه |
| A | **تاریخ/ تولنیز ساینس**<br>**۲ کلن ضرور دی**<br>۱ کال د امریکې تاریخ<br>۱ کال د نړۍ تاریخ | | **تاریخ/تولنیز ساینس**<br>**۴ کلن ضرور دی**<br>۱ سمستر د توکمیزو مطالعاتو<br>۱ سمستر د جغرافیي<br>۱ کال د نړۍ تاریخ<br>۱ کال د امریکا تاریخ<br>۱ سمستر د دولت<br>۱ سمستر د اقتصاد | |
| B | **انګلیسي**<br>**۴ کلن ضرور دی** | | **انګلیسي**<br>**۴ کلن ضرور دی** | |
| C | **ریاضی**<br>**۳ کلن ضرور دی**<br>**۴ کلن وړاندیز دی** | | **ریاضي**<br>**۲ کلن ضرور دی**<br>۱ کلن مدغم ریاضي ۱<br>۱ کلن مدغم ریاضي ۲ | |
| D | **ساینسي لابراتوار**<br>**۲ کلن ضرور دی**<br>**۳ کلن وړاندیز دی** | | **ساینس**<br>**۲ کلن ضرور دی**<br>۱ کلن بیولوژیکي/ژوندی<br>۱ کلن فزیکی | |
| E | **له انګلیسي څخه پرته بله ژبه**<br>**۲ کلن ضرور دی په همدې ژبه کې**<br>**۳ کلن وړاندیز دی** | | **د انګلیسي څخه پرته بله ژبه**<br>**۱ کلن ضرور دی** | |
| F | **بصري او عملي هنرونه (آرټ)**<br>**۱ کلن ضرور دی** | | **بصري او عملي هنرونه(آرټ)**<br>**۱ کلن ضرور دی** | |
| G | **د کالج د اماده ګی انتخاب**<br>**۱ کلن ضرور دی**<br>**۱ کلن د A-G پورې په هر یو کې ضرور دی** | | **انتخابي**<br>پنځه او شپږ کریډیټه | |
| | | | **نور شرایط:** فزیکي تعلیم ، د ټیکنالوژۍ سواد زده کړې خدمت او یا لوړې پروژه کې ۲ کلن خدمت مهارت | |

- د ښوونځي قوانین او مقررات پلي کول چه یو مصؤن تعلیمي چاپیریال رامنځته شي
- د ښوونکو څخه ملاتړ او اوړه په اوږه ودریږئ چه د نظم او ډسپلین مسؤلیتونه سرته رسوي.
- زمونږ د ښوونځي قوانین او مقررات ټولو زده کونکو، کورنیو او کارکونکو سره شریک کړئ.
- د زده کونکو سره په فعالیتونو کې د ګډون له لارې ملاتړ وکړئ چې د دوی په علمي مسؤلیتونو او پایلو باور زیاتوي.

### مور او پلار، سرپرست او د کورنۍ د غړي مسؤلیتونه

مور او پلار یا ساتونکي د ټولو زیانون مسؤل دي چې ددوی د کوچني ماشومانو د قصدي ناوړه چلند له امله رامنځته کیږي، لکه دنورو ماشومانو یا کارکونکو د زخمي کیدو او د مرګ سبب شي او یا د ښوونځي ملکیت ته ضرر ورسوي.

( 48904 § تعلیمي کوډ 1714.1§ مدني کوډ)

هر مور او پلار، سرپرست، او د کورنۍ غړی د ماشوم په ښوونځي کې د مصون ساتلو او ګټور چاپیریال ساتلو مسؤلیت کې شریکه ونډه واخلي. والدین/سرپرست پدې مسؤلیت کې شریک دي کله چې دوي:

- ډاډ تر لاسه کړئ چې ددوی ماشوم په وخت ښوونځي ته راشي او د زده کړې لپاره چمتو وي.
- د ټولو زده کونکو لپاره د چلند معیارونو ساتلو لپاره د ښوونځي او د ښووني او روزنې بورډ حقونه او واک ومني.
- د ښووني او روزني مدیریت په مقرراتو ځان پوهه کړئ.
- د ښوونځي د زده کونکو د چلند لارښووني ته بیا کتنه او د خپل ماشوم سره د چلند لارښود معیارونه.
- د زده کونکي لپاره د زده کړې مواد چمتو کړئ چې ددوی ماشوم ورته اړتیا لري. که د موادو په اړه متیقن نه یاست، د خپل ماشوم ښوونکي سره په اړیکه کې شئ.
- په کور کې د مطالعې لپاره مناسب وخت او ځای برابر کړئ. مور او پلار د خپلو ماشومانو د مطالعې په عادتونو باندې خورا لوی تاثیر لري.
- د دوی د ماشوم د زده کړې لاس ته راوړنې او پرمختګ تعقیب کړئ.
- د دوی د ماشوم سره د هر پرمختګ راپور او د راپور کارت ته بیا کتنه وکړئ. کله چې د ماشومانو والدین او یا سرپرست د دوی د پرمختګ په نظارت کې ښکېل وي نو ماشومان ډېر ښه زده کوي.والدین/سرپرست باید په منظم ډول د خپل ماشوم په تعلیمي پروګرام کې برخه واخلي.
- د خپل ماشوم د ښوونکي ، د ښوونځي مدیرانو او د ښوونځي نورو کارکونکو سره په دوامداره توګه اړیکه ټینګې وساتئ.

### د ښوونکي او ملاتړ کارکونکي مسؤلیتونه

د سکریمنټو ښار د متحده ښوونځیو ولسوالی ښوونکي او ملاتړ کارکونکي د دوی په چلند او د زده کونکو او والدینو سره د دوی په اړیکه کې د ښوونځي او ټولګي مناسب چلند څرګندوي. د علمي لوړتیا سربیره، دا د هر ښوونځي لپاره د SCUSD هدف دی چې :

- د زده کونکو او د هغوی د کورنیو سره ددوی د علمي پرمختګ، چلند، او حاضرۍ په اړه په منظم ډول او په وخت خبري وکړئ.
- د ښوونځي د مصؤونیت او خوندیتوب هر اړخیز لیکلی پلان غوره کړئ او د ناورین د له منځه وړلو چمتووالي لپاره کرنلارې ولټوئ.

## د چلند او علمي صداقت او ریښتینولی معیارونه

### د ښووني او روزني مدیریت AR 5144

د ښووني او روزني مدیریت AR 5144 تشریح کوي چې " د هر ښوونځي مدیر باید ډاډ تر لاسه کړي چې زده کونکي او والدین/سرپرست د هر درسي کال په پیل کې د بورډ د ټولو پالیسیو، اداري مقرراتو او د نظم و نسق اړوند د انفرادي ښوونځي مقرراتو په لیکلو خبر شي. دا خبره باید په پام کې ولرئ چې دا ټول قوانین او مقررات د ټولو ولسوالیو په ښوونځیو کې د مدیر په دفتر کې ستاسو د غوښتني سره موجود دي.

### د بورډ پالیسیو ته مراجعه او اداري مقررات

مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې دا کتابچه یو لنډیز دی چې عمومي لارښووني منعکس کوي چې د ولسوالی د بورډ پالیسیو سره سمون خوري.

### د لا زیاتو تفصیلي معلوماتو لپاره:

5131 BP تر سره کول

د بس چلول5131.1 BP او AR

ورانکاري، غلا او په دیوالونو یا نورو ځایو باندې غلطي کرښې

راکاړل5131.5 BP

د ښوونځي مثبت چاپیریال5137 BP

ترتیب وتنظیم 5144 BP او AR

تعلیق او خارجول/د پروسې تعقیبول 5144.1 BP او AR

تعلیق او خارجول/د پروسې تعقیبول (معلول او معیوب زده کونکي) 5144.2 AR

پلټنې وکړئ او قید یې کړئ 5145.12او AR

جنسي‌تیری 5145.7 BP and AR

د ځوروني ضد 5142.4 AR

### د زده کونکي ډسپلین(نظم ونسق)

د ښووني او روزني مدیریت او ښوونځي ټول هغه مقررات چې د زده کونکي د ډسپلین(نظم ونسق) پوري اړه لري، په اداره کې د زده کونکو د والدینو او سرپرستو لپاره تیار دي (تعلیمي کوډ 35291 §)

### د زده کونکي حقوق

زده کونکي حق لري چې:

- د امن په فضاء کې زده کړه وکړي
- د مدیرانو، ښوونکو یا د SCUSD نور پرسونل سره د مسایلو، اندېښنو، او پرمختګ په اړه بحث وکړئ.

### د والدینو حقوق

والدین او سرپرست حقوق لري:

- د خپلو ماشومانو د پرمختګ په اړه معلومات چې په ښوونځي کې لاس ته راوړنه، په ښوونځي کې چلند، او حاضري یې څنګه ده.
- د یو خوندي چاپیریال طمع وکړئ چې ګوښونکی نه وي اودوی ماشوم ته اجازه ورکړئ چې د زده کړې ورتیا نوره هم اوچته کړي.
- د ښوونځي د ټولو اصولو، مقرراتو او توقعاتو په اړه معلومات.

### د ښووونځي د مدیر مسؤلیتونه

د سکریمنټو د ښار متحد ښوونځي د روزني او ښووني مدیریت د استازو په توګه مدیران به:

د لا زیاتو معلوماتو او د راپور ورکولو فورمو لپاره، دې ویب سایټ ته ولاړ شئ: https://www.scusd.edu/reportbullying.

د ځورونې چلند یا د خورونې راپور په مستعار ډول د ښوونې او روزنې مدیریت د ځورونې د مخنیوي عاجلې شمېرې 1-855-86Bully او یا 18-855-862-8559 شمېرو ته زنګ ووهئ. والدین / سرپرست کولای شي په دې کتابچه کې د غیر تبعیض او IX ټایټل ته مراجعه وکړي.

### د لټون(تالاشۍ) او نیولو پالیسي

د لټون(تالاشۍ) او نیولو پالیسي د ښوونې او روزنې مدیریت واک اداره کوي چې د انفرادي زده کونکو او د دوی ملکیت پلټنه وکړي. د ښوونځي چارواکي کیدای شي پلټنه وکړي کله چې یو "مناسب شک" موجود وي، دا په شواهد ښکاره کړي چې زده کونکی د ښوونې او روزنې مدیریت ، ښوونځي یا د کلیفورنیا د تعلیم کوډ 48900 مادې په اساس د مقرراتو او قوانینو څخه سرغړونه کوي.

### تعلیق(ځنډونه)

تعلیق د ښوونکي او یا د ښوونځي د مدیر لخوا د یوې ټاکلې مودې لپاره د انضباطي دلایلو لپاره له ټولګي څخه د زده کونکی ایستل دي. یو مدیر یا معاون کیدای شي زده کونکی د ښوونځي څخه تر پنځوو پر له پسې ورځو پورې وځنډوي. د ځینو شرایطو پر اساس کیدای شي تعلیق وغځول شي. درې ډوله تعلیقونه(ځنډونونه) شتون لري:

- **د ښوونځي څخه بهر تعلیق(ځنډونه)** پدې معنا ده چې زده کونکی حق نلري چې د سکریمنټو ښار متحد ښونځي صحنې ته اجازه ورکړل شي او نه ورته نږدې شي او دوی ته د ښوونځي په هیڅ کوم یو فعالیت کې د ګډون اجازه لري. په هر صورت، دوی اړتیا لري چې کورنی او صنفي دندې او او ازموینې بشپړې کړي چې دوی ته د بل ښوونځي د کارکونکي له لارې برابرې شي.
- **په ښوونځي کې-تعلیق(ځنډون)** پدې معنا ده چې زده کونکی د ټولګي څخه ایستل شوی مګر په کیمپس کې د تصدیق شوي کارکونکو تر نظارت لاندې د نورو زده کونکو څخه جلا پاتې کیږي.
- **د ښوونکي تعلیق(ځنډونه)** ښوونکي ته اجازه ورکوي چې د پاتې ټولګي لپاره تعلیق کړي په کوم کې چې ناوړه چلند رامنځته شوی او هم د راتلونکي ورځې لپاره یې تعلیق کړي.

د تعلیق (ځنډونې) د اپیل لپاره د لا زیاتو معلوماتو حاصلولو لپاره د زده کونکو د مشکلاتو اوریدو او ځای پر ځای کولو دفتر سره اړیکه ټینګه کړئ د ښوونکي د غوښتنې پر اساس د یو زده کونکي مور یا پلار/سرپرست کیدای شي د ورځې په یوه برخه کې د خپل ماشوم سره په ټولګي کې د ګډون لپاره راوغوښتل شي. ( 48900.1 § تعلیمي کوډ )

### اخراج

د پوهنې بورډ د امر په اساس، د کلیفورنیا د سکریمنټو ښار متحد ښوونځي د ښوونې او روزنې مدیریت د ټولو ښوونځیو څخه د یو زده کونکي لیرې کولو ته اخراج وایی. اخراج د یوې ټاکلې مودې لپاره وی، مګر د بیا داخلېدو لپاره غوښتنلیک باید په ټاکل شوي وخت کې په پام کې ونیول شي.

د ایالت قانون د اخراج د هر حکم په اړه د استیناف غوښتنې لپاره د بشپړې پروسې او حقونه چمتو کوي.
د ایالت قانون د ښوونې او روزنې بورډ مکلفوي چې زده کونکی وباسي

- داسې چاپیریال رامنځته کړئ چې زده کونکی وکولای شي د خپلې علمي درجې معیارونه پکې پوره کړي.
- زده کونکي د ځان ارزونې(پخپله د ځان امتحانول) په روانه پروسه کې شامل کړئ
- د مدیریت معارف او ښوونځي د چلند معیارونو سره ځان په اړیکه کې ساتئ.
- د مطالعې کورس او د درجه بندۍ پالیسي سره اړیکه ونیسئ.
- د مدیریت معارف پالیسي، مقررات، او د ښوونځي مقررات په عادلانه او دوامداره توګه پلې کړئ.
- د ټولو والدینو او زده کونکو سره په وقار او درناوي سره اړیکه ونیسئ.
- د کیفیت څخه ډک پیرودل خپلو مشتریانو ته وړاندې کړئ.

### د بریښنایي سیګنال ورکولو وسایل (BP 5131.2

اداري بورډ پدې باور دی چې د بریښنایي سیګنالو ورکول وسایل په غیر قانوني توګه کارول د زده کونکو د علمي بریاوو لاس ته راوړلو باندې منفي اغیزه کوي، د ټولګي په مؤثر نظم او مدیریت ته ګډوډي رامنځ ته کوي، د کارکونکو او د زده کونکو د خوندیتوب او محرمیت د برید لامل جوړیدای شي.
( 48901.5 § تعلیمي کوډ) ( 5131.2 اداري مقررات )

زده کونکو ته کیدای شي اجازه ورکړل شي چې د د بریښنایي سیګنالو وسیلې لکه ګرځنده ټیلیفونونه، یواځې د ښوونځي د درسي ساعتونو څخه مخکې او وروسته وکاروي. دا ډول وسایل باید د ښوونځي له پیل څخه د ښوونځي د تر پایه پورې ونه کارول شي، په شمول د غیر تدریسي وخت او غیر نصابي فعالیتونه پرته له دې چې د ښوونځي د اداري لخوا اجازه ورکړل شي. د ښوونځي لخوا چې کله بیړنی حالت اعلان شي، نو د متن پیغام سکریپټونه به د زده کونکو لپاره وځړول شي تر څو د بیړني حالت د وضعیت تازه معلومات د خپلو والدینو / سرپرستانو سره شریک کړي. دا مهمه ده چې ګرځنده ټیلیفونونه او نور وسایل باید په کمه توګه وکارول شي تر څو د بیړني خدمتونو په ساحه کې د زده کونکو او کارکونکو سره د مرستې لپاره لومړیتوب ولري. د سایټ اداره باید د پرمختیایي پایلو پلان وکاروي کله چې یو زده کونکی د ښوونځي په ساعتونو کې کاروي او پرته له اجازې د بریښنایي سیګنالو وسیله استعمالوي او کیدای وسیله ترې هم ضبط شي. پداسې حالت کې معقول شک کیدای شي چې بریښنایي وسیله د ښوونځي د قوانینو او یا د ښوونې او روزنې د مدیریت د پالیسي څخه په سرغړونه کې کارول شوې وي، لکه دوکه ورکول، یا ځورول ، په تالار کې د عکسونو اخیستل، یا د حقیقي جرم کولو لپاره، یا د روغتیا په اړه اندیښنه او د زده کونکی یا نورو خوندیتوبونو اندیښنه، د ښوونې او روزنې مدیریت سرپرست یا معاون د قانوني معیارونو سره سم د بریښنایي وسایلو په اړه کتنه او لازم اصولي اجراءات وکړي.

### د ځورونې او ځورونې ضد پالیسي (BP 5145.4

انسان ځورونه د خپل قوت ښودنې یو انډول دی چې د وخت په تېرېدو سره تکراریږي او هدف یې و بل چا ته زیان رسول دي. زده کونکو ته ډاډ ورکول کیږي چې دوی د ځورونې چلند یا ځورونې ته ضرورت نلري چې د زده کړې چاپیریال زیانمن کړي، د زده کونکو وړتیا سره د دوی د زده کړې څخه غلطه ګټه پورته کړي او یا د زده کونکي احساساتي هوساینې ته زیان ورسوي. ښوونځي به د یو منظم ، پاملرنې ، او غیر تبعیض زده کړې چاپیریال برابرولو لپاره کار وکړي او زده کونکي باید د ځورونې چلند ختم کړي که دا ځورونه د ښوونځي ملکیت کې وي یا بهر د ملکیت څخه، په بریښنایي توګه وي، د ښوونځي لخوا تمویل شوي فعالیت کې وي، یا د ښوونځي په موټر کې تر سره شي، په هیڅ صورت کې د قبول وړ نده.

د ښوونځي ټول کارکونکي، زده کونکي، والدین او نورو باندې لازم دي چې د ځورونې چلند د راپور د ښوونځي مدیر ته ورکړي چې دغه مدیر باید دا معلومه کړي چې ایا دا عمل د ځورونې ضد پالیسي سره سمون لري او څرنګه عواقب او جزاء لري. د زده کونکو یا نورو په مخکې غچ او انتقام اخیستل چې د خورونې یا ځورونې راپور ورکوي، منع دي.

- د زده کونکو د حاضری بیا کتني ټیم ته مرا جعه کول (SART)
- د ښوونځي د حاضری بیا کتني بورډ ته مراجعه کول (SARB)
- د تنباکو د استعمال د مخنیوي تعلیم ته مراجعه کول(TUPE)
- د شنبې ښوونځی
- د زده کونکي مطالعه/د بریالیتوب غونډې
- د ټولنې د سرچینو سره د ارتباط لپاره د ښلولو مرکز ته مراجعه کول، او داسې نور.

**ژور/قوي ملاتړ:**

- د سایټ په سطحه د چلند تړون
- تبدیل شوي کلاسونه
- د اړیکو ټینګولو امر نشته
- پخپل رضایت سره لنډمهاله خپلواکه مطالعه
- بدیل ځای پر ځای کول

**<u>ملاتړ پر ځینو ښوونځیو کې شتون لری:</u>**

- د نارینه او ښځینه مشر تابه(لارښود) اکیډمي
- د ګروپ مشوره ورکول/ د ملاتړ ګروپ
- د شخړو هوارول/ د ملګرو سره مشوره
- لارښوونه کول
- د ملګرو منځګړیتوب
- د ښوونځي پر اساس د زده کونکو د ملاتړ مرکز ته راجع کول
- د شنبې ښوونځی
- انفرادي مشوره ورکول
- د عدالت بحالي

لکه څنګه چې تعلیمي کوډ (c) 48915 § کې ښودل شوي دي:

- د اسلحو پلورل، قبضه کول او یا د اسلحو سمبالول
- یو بل کس ته په چاقو نښه کول(چاقو ښودل)
- د کنټرول شویو موادو پلورل( نشه یی توکي)
- جنسي تیری یا جنسي بیټری
- د چاودیدونکو توکو نیول

د کلیفورنیا د زده کړې کوډ د ښوونځي مدیریت ته ضرورت لري چه د زده کونکي د اخراج سپارښتنه وکړي که چیرې یو زده کونکي د لاندې جرمونو څخه یو تر سره کړي:

- یو بل چا ته جدي فزیکي زیان ورسوي غیر د خپل ځان د دفاع څخه
- هر نوعه چاقو، چاودیدونکي توکي، یا د نورو خطرناکو شیانو درلودل چې د زده کونکي لپاره هیڅ معقول کار ندی
- د هر ډول نشه یي توکو غیر قانوني ملکیت پرته له دې چې د لومړي ځل لپاره د یو اونس(غیران) څخه زیات چرس ولري
- غلا او غصب
- د ښوونځي په کارکونکي باندې برید یا د بیټری استعمال

یو زده کونکی باید تر هغه وخته پورې ډسپلین، تعلیق(ځنډول)، یا د اخراج لپاره غوښتنه ونه شي تر څو پورې چې د ښووني او روزنې مدیریت سرپرست، یا معاون مسؤل، او یا د هغه ښوونځي مدیر چې زده کونکی پکې شامل وي، دا معلومه کړي چې زده کونکي د چلند معیارونو، د ښووني او روزنې مدیریت د پالیسیو یا د تعلیمي کوډ 48900 § له یوې یا ډیرو برخو څخه سرغړونه کړې وي.

یو زده کونکی کیدای شي ډسپلین شي، زیات نه زیات تر پنځوو ورځو لپاره تعلیق(وځنډول) شي. یا د چلند په معیارونو کې مشخص شوي اعمالو په اساس اخراج شي چې د ښوونځي فعالیت یا د ښوونځي حاضرې پورې اړه لري چې ښوونځی یې د موجوده ښووني او روزن مدیریت پورې اړه لري او یا د کوم بل مدیریت کې موقعیت لري، مګر د لاندې ذکر شویو اعمالو پورې محدود ندي:

- پداسې حال کې چې د ښوونځي په میدان کې وي
- د غرمې ډوډی پرمهال، د کیمپس داخل کې وي او که د باندې
- د ښوونځي پرمهال، د تلو پرمهال، د راتلو پرمهال او یا په ښوونځي کې د فعالیتونو په جریان کې

**د زده کونکو د ملاتړ ستراتیژي**

(کیدا شي په ټولو سایټونو کې شتون ونلري)

**<u>ملاتړ په ټولو ښوونځیو کې شتون لری:</u>**

**نړیوال ملاتړ:**

- تمدید شوی ورځ/ د پراخه شوی زده کړې د بدایه کولو ملاتړ
- د ټولنیزو احساساتي زده کړې د مهارتونو پراختیا
- **د بیا رغونې تمرینونه**
- د غیر نصابي کلب ګډون
- ټولنیز خدمتونه
- د زده کونکو والدینو کنفرانسونه

**په‌نښه شوي ملاتړونه:**

- د کار کونکو سره ورځنی ناسته
- د کو څخه لیدنه/کتنه
- تعدیل شوی مهال ویش

| **د کلیفورنیا تعلیمي کوډ 48900**<br>**د کلیفورنیا د ښوونې او روزنې کوډ 48900.5 محدودوي چې د لومړي ځل لپاره جرم شوی وي، تضمین يې کوي. د نورو ټولو سرغړونو لپاره یو زده کونکی هغه وخت تعلیق(ځنډول) کیږي کله چې د مدیریت سرپرست او یا د ښوونځي مدیر دا معلومه کړي چې د اصلاح کولو نورې لارې د زده کونکي د سم چلند په راوستلو کې پاتې راغلې. ( 48900.5 تعلیمي کوډ )** | **د تعلیق لپاره AR 5144 او د بیا رغونې د نظم و نسق د اصولو لارښود وګورئ** | **کیدای شي تعلیق شي** | **کیدای شي د اخراج قانون تطبیق شي** | د تعلیق یا تعلیمي کوډ 48902 نه وروسته د پوې ورځې دننه د قانون عملي کونکو سره اړیکه ونیسئ |
|---|---|---|---|---|
| **1. د تاو تریخوالي کړنې [E.C. 48900(a)]**<br>(a)1 د بل چا د فزیکي ټپي کیدو، تهدید او ګواښ لامل شي | حتماً په پام کې ونیول شي | هو | هو | د جزاء کوډ245 نه احتمالاً سرغړونه |
| (a)2 د ځانه دفاع پرته، په قصدي توګه د بل چا په وړاندې زور یا تاو تریخوالی کارول. | حتماً په پام کې ونیول شي | هو | هو | د جزاء کوډ245 نه احتمالاً سرغړونه |
| **2. اسلحې او خطرناک توکي [E.C. 48900(b)]**<br>د اسلحو درلود، پلورل، یا سمبالول (چاقو، ټوپک، تیره شی، برچه یا هغه شی چه زیان رسولای شي یا چاودیدونکي توکي | باید په پام کې ونیول شي پرته له چاودیدونکو توکو- 48915(c)(5) لازمي وګورئ | هو | هو | ممکنه ده |
| **3. نشه یي توکي او الکول [E.C. 48900(c)]**<br>قبضه کول، استعمالول، خرڅول یا بل ډول سامان ورکول، یا د الکولو یا د نشه یي توکو تر اغیز لاندې راتلل | باید په پام کې ونیول شي | هو | هو | ممکنه ده |
| **4. د هغه موادو پلورل چې د الکولو او نشه یي توکو "په څېر" دي [E.C. 48900(d)]**<br>د نشه یي توکو الکولو یا بل نشه یي توکو د پلورلو لپاره وړاندیز، ترتیب یا خبرې اترې بیا د نشه یي توکو په څېر نور مواد په ځای کول چې هدف یې د نشه یي توکو استازیتوب وي | حتماً په پام کې ونیول شي | هو | هو | ممکنه ده |
| **5. غلا او غصب [E.C. 48900(e)]**<br>د غلا او غصب جرمونو لپار هڅه | حتماً په پام کې ونیول شي | هو | هو | ممکنه ده |
| **6. د ملکیت زیان [E.C. 48900(f)]**<br>د ښوونځي ټول ملکیت یا شخصي ملکیت ته د زیان رسولو لامل یا هڅه کول او هم د بریښنایي فایلونو او ډیټابېیسونو ته زیان رسول | ممکن په پام کې ونیول شي | هو | هو | ممکنه ده |
| **7. پټول او غلا [E.C. 48900(g)]**<br>د ښوونځي ټول ملکیت یا شخصي ملکیت څخه غلا کول او یا د غلا هڅه کول او هم د بریښنایي فایلونو او ډیټابېیسونو غلا کول | حتماً په پام کې ونیول شي | هو | هو | ممکنه ده |
| **8. تمباکو [E.C. 48900(h)]**<br>د تمباکو او نیکوټین محصولاتو درلودل یا کارول | حتماً په پام کې ونیول شي | هو | هو | نه |
| **9. فحشاء، فحشاء کارونه کول [E.C. 48900(i)]**<br>1. په ملګرو کې لارښوونه<br>2. د ښوونځي پرسونل ته لارښوونه وکړه | حتماً په پام کې ونیول شي | هو | هو | ممکنه ده |
| **10. مخدره توکي [E.C. 48900(j)]**<br>غوره شوي، اختیار شوي، وړاندیز شوي ترتیب شوي یا خبرې اترې پرې شوې مخدره مواد پلورل | حتماً په پام کې ونیول شي | هو | هو | ممکنه ده |
| **11. په قصدي توګه د ښوونځي د فعالیتون مخنیوی یا ځنډ [E.C. 48900(k)]**<br>1. د ښوونځي په مقرراتو باندې عمل کول کې پاتې راتلل<br>2. د کارکونکو یا استادانو په لارښوونو باندې عمل کولو کې پاتې راتلل<br>3. د ښوونځي د بس مسافرو سره د چلند کوډ په تعقیبولو کې پاتې راتلل | حتماً په پام کې ونیول شي | د 9 نه تر 12 ټولګي پورې | نه | نه |
| **12. په غلا شوي ملکیت باندې قبضه اچول [E.C. 48900(l)]**<br>د پوهې باوجود د غلا شوي ښوونځي ملکیت او یا شخصي ملکیت لاس ته راوړل | حتماً په پام کې ونیول شي | هو | هو | ممکنه ده |
| **13. نقلي تقلیدي اسلحه [E.C. 48900(m)]**<br>د نقلي اسلحو درلودل چې په فزیکي ملکیتونو کې د موجوده اسلحو سره دومره ورته وي چې یو معقول کس دې نتیجې ته ورسیږي چه دا نقلي اسلحه ده | حتماً په پام کې ونیول شي | هو | هو | ممکنه ده |
| **14. جنسي تیری یا جنسي بیټری [E.C. 48900(n)]**<br>د جنسي تیري یا جنسي بیټرۍ ژمنې او یا د ارتکاب هڅه کول | نه | هو | پورته جرمونه په 48915 کې وګورئ- د 48915 (c)(4) په اساس د اخراج وړاندیز وکړئ | ممکنه ده |

| د کلیفورنیا تعلیمي کوډ 48900<br>(جاري) | د تعلیق لپاره AR 5144 او د بیا رغوني د نظم و نسق د اصولو لاربنود وګورئ | کیدای شي تعلیق شي | کیدای شي د اخراج قانون تطبیق شي | د تعليق يا تعليمي کوډ 48902 نه وروسته د يوې ورځې دننه د قانون عملي کونکو سره اړيکه ونيسئ |
|---|---|---|---|---|
| **15.** **د زده کونکي شاهد ځورول [E.C. 48900(o)]**<br>د یو زده کونکي ځورول، تهدیدول یا ډارول چې د ښوونځي په انضباطي بهیر کې د شکایت کونکي شاهد وي او مقصد یې دا وي چې د شاهد کیدو مخه ونیسي او یا د شاهد څخه غچ واخلي. | حتماً په پام کې ونیول شي | هو | هو | ممکنه ده |
| **16.** **د سوما په نوم غیر قانوني نشه یي توکي [E.C. 48900(p)]**<br>وړاندیز شوي، د پلور لپاره ترتیب شوي، د سوما نسخه درمل پلورل یا د پلورلو لپاره خبري اترې | حتماً په پام<br>کې ونیول شي | هو | هو | ممکنه ده |
| **17.** **تنګول [E.C. 48900 (q)]**<br>پر تنګولو کې ښکېل او یا د تنګولو هڅه کول | حتماً په پام<br>کې ونیول شي | هو | هو | ممکنه ده |
| **18.** **ځورول [E.C. 48900(r)]**<br>د ځورونې په عمل کې ښکېل شوی، شمولیت، مګر محدود نه دی، د بریښنایي عمل له لارې ماده کې تعریف شوي، په 32261 ) برخو په g) او(fترسره شوی ځورونې، لکه څرنګه چې د ( خاصه توګه د زده کونکي یا د ښوونځي پرسونل ته لاربنود شوې. | حتماً په پام کې ونیول شي | هو | هو | ممکنه ده |
| **19.** **ایډز او ایبټس [E.C. 48900(s)]**<br>بل کس ته د فزیکي زیان رسولو هڅه او کوښښ | حتماً په پام کې ونیول شي | هو | نه، پرته لدې چې د ماشوم<br>محکمې لخوا قضاوت<br>وشي چې د مرسته کونکي<br>یا هڅوونکي په توګه جدي<br>ټپي کیدو لامل شوی وي.<br>اخراج به د<br>a2یاEC.48900 a1,<br>پر اساس وړاندې ځي | ممکنه ده |
| **20.** **جنسي ځورونه [E.C. 48900.2]**<br>نا غوښتلي جنسي پرمختګونه، د جنسي اړیکو غوښتنه، لفظي، بصري، یا د جنسي طبیعت فزیکي چلند، دا ټولې جنسي ځورونو کې شاملې دي مګر ددې نه نورې هم جنسي ځورونې کیدلای شي. د 4 ټولګي نه تر 12 ټولګیو پورې د تطبیق وړ دي. | حتماً په پام کې ونیول شي | هو | هو | ممکنه ده |
| **21.** **د کرکې د تاوتریخوالي کړنې [E.C. 48900.3]**<br>د کرکې د تاوتریخوالي لپاره بې ځایه بهانې جوړول، ګواښل، د بهانو جوړولو کوښښ کول، او یا یو داسې کار کې مداخله کول چه د نفرت سبب جوړیږي او یا د یو ځا شخصیت او ملکیت ته سپک نظر کول د نژاد، توکم، قومي اصل، معلولیت یا جنسي تمایل. هغه وینا چې ګواښونکې یې د 4 ټولګي نه د تهدید او تاوتریخوالي بې ځایه الفاظ استعمالوي، د تاوتریخوالي سبب ګڼل کیږي. تر 12 ټولګیو پورې د تطبیق وړ دي. | حتماً په پام کې ونیول شي | هو | هو | ممکنه ده |
| **22.** **ډارونکی او یا د دښمنی نه ډک چاپیریال یې رامنځته کړی [E.C. 48900.4]**<br>په قصدي ډول سره ښوونې او روزنې مدیریت کارکونکو او یا زده کونکو ته ځورونه او ګواښونه کوي چې دغه ګواښونه خورا سخت او یا پراخه وي پدې خاطر چې درسي کارونه کډ وډ کړي او هم د ګډ وډۍ په رامنځته کولو سره د ښوونځي حقوق تر پښو لاندې کړي. او غواړي چه تعلیمي بګر د دښمنی پر میدان بدل کړي. یواځې د 4 ټولګي څخه تر 12 ټولګي پورې. | حتماً په پام کې ونیول شي | هو | هو | ممکنه ده |
| **23.** **ترهګریز ګواښونه[E.C. 48900.7]**<br>د ښوونځي رسمي کارکونکو او عملې ته / یا د ښوونځي د ملکیت پر وړاندې تروریستي ګواښونه جوړول | حتماً په پام<br>کې ونیول شي | هو | نه | ممکنه ده |
| **24.** **غیر حاضري کول [E.C. 48260]**<br>( د خبرداری لیک#1)د کوم معقول عذر نه پرته د ښوونځي څخه غیر حاضر. | حتماً په پام<br>کې ونیول شي | نه | نه | نه |
| **25.** **د ورکیدو او تیښتې تکرارول [E.C. 48261]**<br>(د خبرداری لیک#2 ) | حتماً په پام<br>کې ونیول شي | نه | نه | نه |

| د قانون پلي کونک سره په اړیکه شئ (Ed. Code 48902) | ممکنه ده وشړل شي | ممکنه ده چي وځنډول شي | د تعلیق(ځنډول) لپاره بدیل | د کلیفورنیا تعلیمي کوډ48915 |
|---|---|---|---|---|
| د جزاء کوډ245 نه احتمالاً سرغړونه | ممکنه ده | هو | نه | **د اخراج لپاره اجباري سپارښتنې "مګر که پرنسپل یا د مدیریت مسؤل دا وټاکي چي اخراج باید په شرایطو کې ورانديز ونه شي یا دا چي د اصلاحاتو بدیل وسیله وکارول شي:" [E.C. 48915(a)]**<br>a.1(A)<br>د ځان له دفاع څخه پرته، د بل چا د جدي فزیکي ټپی کیدو لامل کیږي. |
| ممکنه ده | ممکنه ده | هو | نه | a.1(B)<br>په هر شکل د چاقو نیول،(3.5 انچه) یا بل خطرناک شی چي د زده کونکي لپاه هیڅ معقول کار نه ښکاري. |
| هو | ممکنه ده | هو | نه | a.1(C)<br>د یو اونس چرس ښود چه لومړی جرم وو له دي پرته، د هر ډول نشه یي توکو په غیرقانوني شکل ښودل |
| ممکنه ده | ممکنه ده | هو | نه | a.1(D)<br>غلا او غصب |
| د جزاء کوډ245 نه احتمالاً سرغړونه | ممکنه ده | هو | نه | a.1(E)<br>د ښوونځي په کارکونکي باندې برید یا بیټری |
| هو- حتماً راپور ورکړئ | هو | هو | نه | **اجباري اخراج [E.C. 48915(c)]**<br>(c)(1) د اسلحو پلورل، قبضه کول، یا د اسلحو سمبالول |
| هو | هو | هو | نه | (c)(2) چاقو یو بل تن ته نښه کول (3.5 انچه) |
| هو | هو | هو | نه | (c)(3) د کنټرول شویو مخدره موادو پلورل |
| هو | هو | هو | نه | (c)(4) د جنسي تیري یا جنسي بیټری ژمني او یا د ارتکاب هڅه کول |
| هو- حتماً راپور ورکړئ | هو | هو | نه | (c)(5)<br>د چاودیدونکو توکو نیول،"ویجاړونکي وسیله" لکه څنګه چي د متحده ایالاتو د کوډ 18 سرلیک 921 برخه کي تشریح شوی ده. |

## د اخراج لپاره نور اساسات

## [EC 48915 (b), (e)]

د مدیر د سپارښتني پر اساس، د ښووني او روزني بورډ کولای شي یو زده کونکی د نورو کړنو پر اساس اخراج کړي کوم چي په 15 صفحه 48900 کوډ کي ذکر شوی دی.

د زده کونکي د اخراج د پریکړې لپاره باید د لاندې دوو موضوع ګانو څخه یوه وي او یا دواړه وي:

- د سمون نورې لارې چارې د امکان وړ ندي او یا د سم چلند په کولو کي پاتي راغلی دی، او یا
- د عمل د ماهیت له امله، د زده کونکی شتون یا د نورو فزیکي خوندیتوب ته دوامداره خطر لامل کیږي.

یا د بل ډول د جنسي ځورونې په تور د شکایت کونکي ملاتړ کوي، د غچ اخیستل یې منع کړي دي.

د ښوونې او روزنې مدیریت په پوره احساس تاسو ته جرئت درکوي چه که تاسو پوهیږئ چه هر څوک یا بالغ تن تاسو ته آزار او ځورونه درکوي او یا د سایبر ځورونې په شمول د کیمپس څخه بهر جنسي ځورونې تجربه شوې/ آنلاین / د ټولنیزو رسنیو فعالیت او /یا جنسي تاوتریخوالی، چې په کیمپس کې دوامداره اغیزه لري د ښوونځي په چاپیریال کې او یا د ښوونځي پورې اړوند فعالیتونو کې ، سمدلاسه د خپل ښوونکي، مدیر، یا د ښوونځي کوم بل موجود کارکونکي سره اړیکه ونیسئ. د مدیریت هر کارکونکی چې راپور تر لاسه کوي یا د جنسي ځورونې پیښه ګوري باید سمدستي مدیر، د سایټ ټاکل شوی سرپرستIX یا د مدیریریت ټاکل شوی د شکایتونو افسر IX په جریان کې واچوئ. کله چې د سایټ ټاکل شوی سرپرستIX یا د مدیریریت ټاکل شوی د شکایتونو افسر IX خبر شي، سمدستي د نورو پلټنو او حل لپاره ګامونه پورته کوي لکه څرنګه چې په اړونده اداري مقرراتو کې مشخص شوي. د مدیریت او ساحې کارکونکي باید د مداخلې لپاره سمدستي ګامونه په مصوون حالت کې پورته کړي چې یو کس (نارینه او ښځینه) د شاهد په توګه شاهدي ورکوي چه شاهد د تبعیض، ځورونې، ډارول، غچ اخیستنه، او /یا د ځورونې د سترګو لیدلی حالت بیانوي. کله چې مدیریت د شکایت لیکلې فورمه خپره کړې بیا د راپور ورکونکي خپل شکایت په لیکلي ډول راوړلو ته ضرورت نه وي او مدیریت به خپلې څېړنې تر سره کوي.

(د مدیریتونو په پروګرامونو او فعالیتونو کې – cf. 0410)
(د مدیریت د کارکونکو په اړه شکایتونه – cf. 1312.1)
(د ښوونځي مثبت چاپیریال – cf. 5137) (ځورول – cf. 5131.2) (چلند – cf. 5131)
- cf. 5145.3) (د ماشومانو څخه ناوړه ګټه اخیستنه او راپور ورکول – cf. 5141.4)
جنسي روغتیا او ایډز/ایچ آی وي د مخنیوي – cf. 6142.1) (عدم تبعیض/ځورونه لارښوونې

هر کله که یو زده کونکی پوهه شي چې د یو ملګري، کارکونکي او یا بل کوم کی لخوا ځورول کیږي، سمدستي دې د اداري کارکونکو سره اړیکه ونیسي. د مدیریت او ساحې کارکونکي باید د جنسي ځورونې شکایتونه د 5145.7 او .1312.3 په اساس سمدستي د سایټ نومول شویو هر یو د سایټ ټاکل شوی سرپرستIX یا د مدیریریت ټاکل شوی د شکایتونو افسر IX ته ډیر ژر راپور ورکړئ.

د مدیریت کارکونکي او د سایټ کارکونکي که هر ډول ځورونې پخپله ووینې او خورول شوي زده کونکي شکایت هم نه وي کړي، باید د مدیریت او سایټ کارکونکي راپور ضرور ورکړي.

د مدیریت لخوا ټاکل شوی د شکایتونو افسر IX د اطاعت له لارې سرپرست افسر باید د مدیریت د جنسي ځورونې پالیسی پیاوړي کولو لپاره مناسب عملي ګامونه پورته کړي.

منع شوي جنسي ځورونې کې جنسي تاوتریخوالی، نامناسب جنسي پرمختګونه، جنسي غوښتنه، یا نور د جنسي زیاتي لفظي، بصري یا فزیکي چلند او داسې نورې کړنې چه دا ټولې ځورونې ندي بلکه نورې هم شته ، ځنې نور کارونه چه په تعلیمي ترتیب کې یو شان یا مخالف جنس د بل کس په وړاندې تر سره کوي، په لاندې شرایطو کې یې وګورئ: ( 5 CCR 4916; 212.5 § تعلیمي کوډ )

1. د یو فرد د علمي حات یا پرمختګ اصلاح چه په ښکاره ډول یا په پټ ډول چلند ته سپارل

## د جنسي ځورونې په اړه د IX عنوان پالیسي (BP 5145.7)

د ښوونې او روزنې مدیریت پېژني:

- د جنسي ځورونه او د یو تن هویت څرګندونه او نورې د جنسي اړیکو پر بنسټ ځورونې د ټولو زده کونکو د زده کړې په وړتیا باندې ناوړه اغیزه لري، پداسې حال کې چې ټول زده کونکی د ځورونې څخه پاک تعلیمي چاپیریال مستحق دي.

- دا جنسي ځورونه او د جنسیت پر بنسټ نور تبعیض په غیر متناسب ډول د زده کونکي پر رنګ، مهاجرت، هم جنس باز، دوه جنسه او ټرانسجینډر(LGBTQI) یا د جنس غیر موافق یا نرښځي(هیجړا) په توګه پیژندل کیږي، معلولیت لرونکي زده کونکي، پر ټولو منفي اغیزه لري
- د اچې د ښوونې او روزنې مدیریت د جنسیت پر بنسټ د تبعیض ټول شکایتونه اخلي، ټول راپورونه به وڅیړي او په سمه توګه به هغو زده کونکو او کارکونکو ته سزاء ورکړي کومو چې د قانون څخه سرغړونه کړې وه.
- د جنس او جینډر پر بنیاد جنسي ځورونې راپورونو ته هرکلی وایو او سمه د حل لپاره یې ګورو او مونږ یې مرسته کوو. غچ او انتقام اخیست منع دي، او

- بله دا چې د ښوونې او روزنې مدیریت د مساوي حقوقو د مدافعینو سره همکاري کوي چې خپلو کړنو او پالیسیو ته دوام ورکړي تر څو د زده کونکو لپاره خوندي او له تبعیض څخه پاک تعلیمي چاپیریال ډاډمن کړي.

له دې امله، د اداره کولو بورډ ژمن دی چه د زده کړې چاپیریال له ځورونې څخه پاک وساتي. د اداره کولو بورډ د هریو کارکونکي ځورونه پر زده کونکي، یا د زده کونکي ځورونه او یا د بل کس لخوا په ښوونځي کې یا د ښوونځي اړونده هر غیر قانوني جنسي ځورونې مخنیوی کوي. هر هغه منع شوی چلند چې د کیمپس څخه بهر یا د ښوونځي پورې متعلق بهر غیر اخلاقي کړنې پیښیږي، لکه بریښنایي یا مجازي / آن لاین میډیم، دا ټول د جنسي ځورونې په غیر اخلاقي فعالیت کې داخل دي چې د دښمنۍ سبب کیږي او هم د مدیریت معارف د درس چاپیریال سره دښمني کول دي. مور او پلار / سرپرست حق لري چې د زده کونکو اړونده د ښوونې او روزنې مدیریت د جنسي ځورونې پالیسي تر لاسه کړي. [ 48980(g) § 231.5 § تعلیمي کوډ ] هر هغه زده کونکی چې په ښوونځي کې د هرچا جنسي ځورونې یا د ښوونځي پورې اړوند غیر اخلاقي فعالیت کې ښکېل وي، د مناسب د نظم او ډسپلین د عمل سره مخ کیږي.

### د بورډ پالیسي5145.7

اداري بورډ ژمن دی چې د زده کړې چاپیریال له ځورونې او تبعیض څخه پاک او خوندي وساتي. اداري بورډ په ښوونځي کې یا د ښوونځي لخوا تمویل شوي یا د ښوونځي پورې اړوند د هر زده کونکي لخوا په نښه شوي د جنسي ځورونې ټول فعالیتونه منع کوي. بورډ د هر هغه چا پر وړاندې چه د غچ اخیستلو کوښښ کوي یا د هغه زده کونکي مخه نیسي چه شکایت وړاندې کوي یا یې پر اړه شاهدي ورکوي

**لارښوونه/ معلومات**

د مدیریت معارف سرپرست او د مدیریت ټاکل شوی د شکایتونو افسر IX باید ډاډ تر لاسه ړي چه زده کونکی د جنسي ځوروني په د عم سره سم معلومات تر لاسه کوي. دا ډول معلومات او لارښووني باید پدې کې شامل وي:

1. کوم کارونه او سلوک د جنسي ځوروني لامل کیږي، په شمول د دهغه حقیقت چې جنسي ځوروني د هم جنس خلکو تر منځ واقع کیدای شي او جنسي تیری پکې د تاوتریخوالي سره شامل وي؛

   دهغه حقیقت چې جنسي ځوروني د هم جنس خلکو تر منځ واقع کیدای شي او جنسي تیری پکې د تاوتریخوالي سره شامل وي؛
2. یو روښانه پیغام چې زده کونکي په هیڅ یو حالت کې د جنسي ځوروني زغملو ته اړتیا نلري؛
3. دا چې هر یو او ټول زده کونکي دیته هڅول کیږي چه سمدستي د جنسي ځوروني لیدل شوي پیښي راپور ورکړي اگر که هغه تن چه د جنسي تیري قرباني شوی وي او هغې شکایت نه وي کړی؛
4. یو واضحه پیغام چې د زده کونکو خوندیتوب د ولسوالی لومړنی اندیښنه ده، او داچې د هر یو قانون څخه د سرغړوني قرباني او یا بل کوم نفر چې جنسي ځوروني راپور ورکوي مشکل باید په ځانګړي توګه حل شي تر څو جنسي ځورونه صورت وځیرل شي او یا حل شي؛
5. یو واضحه پیغام چې د شکایت کونکي لخوا چې شکایت یې په لیکلي بڼه وي او یا یې نه وي، مهال ویش، یا د نورو رسمي دوسیه کولو د اړتیاوو سره په پام کې نیولو سره، د جنسي ځوروني هر تور چې یو زده کونکی پکې شامل وي، د هر ډول ځوروني د مخنیوي، د بیا تکراریدو، او په زده کونکو باندې د بدو اغیزو د مخنیوي لپاره تحقیق او سمدستي اقدام وشي؛
6. د شکایتونو د څېړلو لپاره د مدیریت معارف د طرز العمل په اړه معلومات او هغه کسان پیژندل چې د جنسي ځوروني راپور ورکړل شي؛
7. د زده کونکو او والدینو / سرپرستانو د حقوقو په اړه معلومات چې د مدني یا جنایي شکایتونو ثبتولو لپاره لکه څنګه چې د تطبیق وړ وي، په شمول د مدني یا جنایي شکایت پداسې حال کې چې د جنسي ځوروني شکایت باندې په مدیریت کې تحقیقات روان وي؛ او
8. د اړتیا په صورت کې، یو روښانه پیغام چې مدیریت به د ښوونځي د امنیت د تضمین لپاره لنډمهاله اقدامات وکړي چه شکایت کونکی او یا د جنسي ځوروني قرباني شوی زده کونکی او یا نور زده کونکي چې د تحقیق لپاره راغوښتل شوي وو، په امن کې وی او نور جنسي ځورول شوی زده کونکی بیا زیانمنه نه کړي.

د ښووني او روزني د شکایتونو اوریدلو افسر IX باید ټریننګ تر لاسه کړي. په همدا ډول د مدیریت کارکونکي چه د جنسي تیري د مخنیوي د ټریننګونو اسناد ولري او که یې ونلري ، باید ټریینګ تر لاسه کړي. د هر سایټ نومول شوی سرپرست IX هم د خپلې دندې د ترسره کولو لپاره د وخت د ضرورت پر اساس لومړني او جاري ټریننګونه تر لاسه کړي.

د ښوونځي مثبت – cf. 5137) ( ورانکاري، غلا او غصب– cf. 5131.5)
(د ماشومانو د ناوړه ګټې اخیستنې مخنیوی – cf. 5141.41) (چاپیریال cf. 5145.3
کورنی ژوند / جنس – cf. 6142.1) (عدم تبعیض/ځورونه–

د یو فرد علمي فیصلي باندې اغیزه او اثرات چلند ته سپارل او یا رد کول

2. چلند د یو فرد په علمي فعالیتونو باندې اغیزه کوي او د اساس په توګه کارول کیږي.
3. چلند د یو فرد په علمي فعالیت باندې د منفي اغیزې هدف او یا تاثیر لري، یا د ډارونکي، دښمنانه یا تیریدونکي تعلیمي چاپیریال رامنځته کول دي. دا چلند په کافي اندازه سخت، دوامداره، پراخ یا هدفي ډول برید دی تر څو د دښمنی او ناوړه تعلیمي چاپیریال رامنځته کړي او یا د تعلیمي پراختیایی زده کړو مخه ونیسي
4. د فرد لخوا د چلند سپارل یا رد کول د هرې پریکړې لپاره د اساس په توګه کارول کیږي چې زده کونکی د ګټو او خدمتونو، ویاړونو، پروګرامونو، یا فعالیتونو په اړه چې په مدیریت کې او یا د مدیریت په پروګرام یا فعالیت له لارې شتون لري.

(د ښوونځي مثبت چاپیریال – cf. 5137) (ځورول – cf. 5131.2) (چلند – cf. 5131)
(عدم تبعیض/ځورونه – cf. 5145.3)
(جنسي روغتیا او ایډز/ایچ آی وي د مخنیوي لارښووني – cf. 6142.1)

د غیر اخلاقي چلند ډولونه چې د مدیریت معارف لخوا منع کړی شوي دي او د کومو له امله چې جنسي ځورونه تشکیل شوي ده، په لاندې ډول دي مګر دا ټول ندي:

1. چا ته په بدو سترګو کتل، جنسي تیری، یا وړاندیزونه
2. جنسي سپکاوی، مختلف قسمه تشبیهات، ګواښونه، لفظي ناوړه ګټه اخیستنه، توهیونوکي تبصرې، یا د جنسي سپکاوي توضیحات
3. د یو تن د بدن په اړه ګرافیک لفظي تبصرې، یا ډیرې شخصي خبرې اترې
4. جنسي ټوکې، د توهین نه ډک پوسټرونه، یادداشتونه، کیسې، کارټونان، نقاشي او رسامي، انځورونه یا د فحش اشارې، یا د کمپیوټر په ذریعه د جنسي اړیکو طبعي جوړ شوي عکسونه
5. د جنسي اړیکو د اوازو خپرول
6. د هغو زده کونکو په قصدي توګه ځورول او یا پر هغو باندې د جنسي اړیکو تبصرې کول چه د واحد جنس په ټولګي کې شامل دي.
7. د بدن مالش کول، یو چا ته لاس اچول، مینه کول، نوکارې لګول یا سکونډل، یا د بدن برش کول
8. د جنسي اړیکو یا د شهوت په نظر د یو تن بدن یا جامې لمس کول
9. د حرکتونو مخنیوی یا بندول یا د ښوونځي په فعالیتونو کې فزیکي مداخله کله چې د یو تن د جنسیت یا جینډر هویت یا بیان پر اساس خبره کیږي
10. د جنسي اړیکو لپاره وړاندیز کونکي شیان ښکاره کول
11. جنسي تیری، جنسي بېټری، جنسي تاوتریخوالی، یا جنسي جبر او زور
12. د برقي وسایلو له لارې تبصرې، الفاظ او کلیمې، یا تصویرونه لیږل چه په پورته معلومات کې اکثره ذکر شول

هر ډول منع شوي غیر اخلاقي چلند چې د کیمپس څخه بهر واقع کیږي او یا د ښوونځي پورې اړوند تمویل شوي پروګرامونو او فعالیتونو تر سره کولو پرمهال صورت نیسي، د مدیریت معارف د پالیسی څخه سرغړونه ده. که چیری دا د شکایت کونکی یا د چلند قربانیانو لپاره د ښوونځي په دوامداره توګه اغیزه ولري یا د ښوونځي سره د دښمنی لرلو چاپیریال رامنځته کړي، نو د جدي ممانعت سره به مخ شي.

او هغه کسان چې پداسې شکایتونو کې ښکېل دي باید د څېړنې پروسې څخه بهر د اړونده معلوماتو په اړه بحث ونه کړي.

. محرم معلوماتو په غیر قانوني توګه – cf. 4119.23/4219.23/4319.23) (
څېړول/ محقق معلومات

**ریکارډ ساتنه**

د مدیریت د شکایتونو اوریدلو سرپرستIX د جنسي ځورونې د ټولو راپور شویو قضیو ریکارډ تر اوو کلونو اپورې ساتي تر څو مدیریت وکولای شي د مدیریت په ښوونځیو کې تکراري ځورونې چلند څارنه، حل او مخنیوی وکړي.

(د مدیریت ریکارډ – cf. 3580)

قانوني مراجعه:

**تعلیمي کوډ**

\د جنس پر بنسټ تبعیض منع کول 200-262.4
جنسي تیری/ځورونه 212.5
د جنسي تیري او ځورونې پالیسي 212.6
د تعلیق یا اخراج لپاره اساسات 48900
د تعلیق یا اخراج لپاره نور دلایل؛ جنسي ځورونه 48900.2
د زده کونکي د قصدي ناوړه چلند پر وړاندې د مور او پلار / سرپرست 48904
مسؤلیت
د درسي کال/سمسټر په اول کې اعلان 48980

**د مدني قانون کوډ**

د جنسي ځورونې مسؤلیت؛ بزنس، خدمتونه او مسلکي اړیکې او تعلقات 51.9
د ماشومانو سره د قصدي ناوړه چلند پر وړاندې د مور او پلار/ سرپرست 1714.1
مسؤلیت
د متحده ایالاتو کوډ عنوان20
د پوهنې په قانون کې تعدیلات 1681-1688 Title IX, 1972
د متحده ایالاتو کوډ عنوان42
د 1964 د مدني حقوقو قانون 2000d & 2000e et seq. Title VI & Title VII,
تعدی
Franklin v. Gwinnet County Schools (1992) 112 S. Ct. 1028
Doe v. Petaluma City School District (1995, 9th Cir.) 54 F.3d 1447
Donovan v. Poway Unified School District, (2008) 167 Cal.App.4th 567
Gebser v. Lago Vista Independent School District, (1998) 524 U.S. 274
Oona R.-S. etc. v. Santa Rosa City Schools et al (N.D. Cal. 1995) 890 F.Supp. 1452
Patricia H. v. Berkeley Unified School District (N.D. Cal. 1993) 830 F.Supp. 1288
Davis v. Monroe County Board of Education (1999) 526 U.S. 629CSBA PUBLICATIONS
د ترانس جنس او جنډر غیر موافق زده کونکو لپاره خوندیتوب، بې تبعیض
ښوونځي چاپیریال چمتو کول، د پالیسی لنډیز, February 2014
خوندي ښوونځي: د زده کونکو د ډاډ لپاره د دولت بوروډونو لپاره یو ستراتیژیک
بریالیتوب, 2011
د متحده ایالاتو د پوهنې ریاست، د مدني حقوقو د څېړونو دفتر
د ناوړه چلند په اړه په کیمپس کې پوښتنې او ځوابونه, September 2017
د ترانسجنډر زده کونکو د ملاتړ په هکله د پالیسیو او بیرنیو کړنو مثالونه, May 2016
د ګران همکار په نامه لیک:کوردینیټر IX, April 2015
جنسي تیری/ځورونه: دا علمي نده, September 2008
د جنسي تیري اصلاح شوی لارښود: د زده کونکو ځورول، د ښوونځي کارکونکي، نور
زده کونکي او یا دریمګړی, January 2001
WEB SITES
CSBA: http://www.csba.org
د کلیفورنیا د پوهنې ریاست: http://www.cde.ca.gov
د متحده ایالاتو د پوهنې ریاست، د مدني حقوقو دفتر:
http://www. ed.gov/about/offices/list/ocr

**د شکایت بهیر او د نظم ډسپلین کړنې**

د زده کونکو لخوا د جنسي ځورونې شکایتونه د مدیریت معارف د یونیفورم شکایت پروسیجرونو سره سم چې د BP او AR 1312.3 مادې په اساس، شکایتونه باید وڅېړل شي او حل شي.
مدیران او د سایټ ټاکل شوي اداري سرپرستان IX مسؤلیت لري چې زده کونکي او د هغوی والدین/سرپرستان خبر کړي چې د جنسي ځورونې شکایتونه د BP/AR 1312.3 لاندې ثبت کیږي او هم مسؤلیت لري چې یوه کاپي چیرته تر لاسه کیږي.

(د شکایتونو یونیفورم پروسیجر – cf. 1312.3)

د سایټ ټاکل شوی مدیر IX باید په چټکۍ سره د AR 5145.7 مادې په اساس د زده کونکي د جنسي ځورونې هر راپور وڅېړي.
د جنسي ځورونې د تصدیق پرمهال چه ځورونه واقع شوې ده، دوی باید سمدستي ګامونه واخلي او په ځورول شوي شخص باندې اغیزې په ګوته کړي او د نورو پیښو مخه ونیسي.
له دې برسېره، زده کونک کولای شي د مدیریت د شکایتونو د درج کولو IX افسر سره د شکایتونو د پروسیجر سره سم شکایت درج کړي.

(د شکایتونو یونیفورم پروسیجر – cf. 1312.3)

د جنسي ځورونې د شکایت د پلټنې پرمهال هغه زده کونکی چې ددې پالیسی په سرغړونې کې په جنسي ځورونې یا جنسي تاوتریخوالي کې ښکېل وموندل شي باید د مناسب نظم او ډسپلین او د نورو اصلاحي عمل یا مداخلو تابع وي.
د 4 ټولګي څخه تر 12 ټولګي زده کونکي که په جنسي ځورونه کې ککړ وي نو د نظم او ډسپلین په اساس کیدای شي تعلیق او / یا د ښوونځي څخه خارج شي پدې شرط چې د پیښې ټول شرایط په پام کې ونیول شي.
د K څخه تر 3 ټولګي پورې زده کونکي د 48900.2 مادې په اساس تعلیق او یا د ښوونځي څخه خارج نشي خو د نظم او ډسپلین او یا نورو اصلاحي کړنو د ښکېلو شرایطو سره مخامخ شي.

(ډسپلین – cf. 5144)
تعلیق او اخراج/ تعقیب پروسه – cf. 5144.1)

هغه کارکونکي چې د هر زده کونکی په وړاندې د جنسي ځورونې یا جنسي تیري په راپور کې ښکېل وي او یا یې جنسي تیري لپاره یې اجازه ورکړې وي ، د جنسي ځورونې د شکایت د پلټنې پرمهال د انضباطي قانون او پلي شوي اجتماعي معاملې تړون سره سم د ګوښه کولو په شمول د مناسب انضباطي اقدام تابع وي.
د مدیریت کارکونکي باید د مصؤنیت او خوندیتوب په صورت کې د مداخلې لپاره سمدستي ګامونه پورته کړي چې ځوک د تبعیض، ځورونې، ډارولو، غچ اخیستنې، یا ځورونې شاهد وی.
له دې برسېره، ممکنه ده چه نور جنایي او مدني تورونه راوړل شي، د ماشومانو څخه د ناوړه ګټې اخیستنې کار هم د جنسي ځورونې یوه نمونه ده او د قوانینو څخه سرغړونه ګڼل کیږي.

( cf. 4118 – تعلیق/د ډسپلین عمل) (cf. 4218 – ګوښه کول/تعلیق/ډسپلین عمل) (cf. 4119.11/4219.11/4319.11 – جنسي ځورونه) (cf. 5141.4 – د ماشوم څخه د ناوړه ګټې اخیستنې د راپور ورکولو پروسیجرونه) (cf. 1312.3 – د شکایتونو یونیفورم پروسیجر)

د ښوونې او روزنې مدیریت د شکایت کونکي یا د شکایت په پروسه کې ګډون کونکي د ټولو د انتقامي چلند مخه نیسي. د جنسي ځورونې د شکایت اړوند ټول معلومات ممکن حده پورې باید محرم وساتل شي،

د IX تر رتبې لاندې، جنسي تيری يا ځورونه د جنسيت پر بنسټ د غير اخلاقي چلند په توګه تعريف شوې چې د لاندې څخه په يو يا څو کې جملو کې وايو:

(1) د مديريت يو کارکونکی د مديريت څخه مرستې، ګټې يا خدمت تر لاسه کوي چې له بده مرغه د جنسي تيري چلند سره مخ شي؛ (2)ناخوښه چلند چې د يو معقول شخص لخوا ټاکل کيږي چې ډېر سخت، پراخ،

(2) او په هدفي توګه برید کونکي وي ، دا يو داسې شخص د مشترې پروګرامونو او فعاليتونو زده کړې لرې، ردوي.

(3) " (3) orجنسي برید "لکه څرنګه چې په " ,(v) (A)(6)(f)20 U.S.C. 1092 د نيټې تاوتریخوالی "لکه څنګه چې په" ,(10)(a)34 U.S.C. 12291 د کورنی تاوتريخوالی "لکه څنګه چې په ,(8)(a)34 U.S.C. 12291 يا"تعقيب "لکه څنګه چې په.(30)(a)34 U.S.C. 12291

د ښوونې او روزنې مديريت د IX رتبې د فهرست نه باندې، د جنسي تيري يا ځورونې داسې تعريف شوې چې: د جنسي ماهيت د ناخوښه پاملرنه چې د تعليمي فعاليت، زده کړې چاپيريال او د مديريت په پروګرامونو يا فعاليت کې د هر چا لخوا مداخله کولو ته جنسي تيری وايی.
جنسي تيری يا ځورونه په ډېرو شکلونو سره کيدای ولې يو څه فزيکي حرکتونه يې (په ګوته کول، لمس کول، ټکول، يا د حرکتونو بندولو پورې محدود نه دي)، بصري حرکتونه ( پوسټرونه، کارټونونه، سکيچونه، اشارې يا د واضح جنسي طبيعت نورې بصري نندارې) يا لفظي ( لفظي کې د هر تن ځانته خپل الفاظ وې چې د جنسي تيري لپاره يې استعمالوي.)

(cf. 5131 - Conduct) (cf.
5131.2 - ځورونه)
(cf. 5137 – د ښوونځي مثبت چاپيريال)
(cf. 5145.3 – عدم تبعيض/جنسي تيری)
(cf. 6142.1 – جنسي روغتيا او ايډز/ايچ آی وي د مخنيوي لارښووني)

د IX رتبې پر اساس، مديريت معارف د لاندې ټولو شکايتونو د قناعت ورکولو واک په لاس کې لري:

1. ادعا شوې غير اخلاقي چلند په متحده ايالاتو کې پيښ شوی؛
2. ادعا شوی غير اخلاقي چلند په يو تعليمي پروګرام يا فعاليت کې رامنځته شوی چه مديريت يې په دواړو (a) ځواب ورکونکی او (b) په هغه شرايطو کې چه د جنسي تيري ادعا شوې وه، د پام وړ کنټرول راولې؛ او
3. شکايت کونکي د شکايت ثبتولو پرمهال په يو تعليمي پروګرام يا فعاليت کې برخه اخيستې وه او يا يې په برخه اخيستو کې هڅه کوله او يا يې د ښوونځي په چارو کې برخه اخيسته.

د ښوونې او روزنې مديريت لاندې اشخاص پدې توګه نوموي چه دوی مسؤليت لري چې خپل ټول کوښښونه او هڅې د جنسي تيري د شکايتونو تحقيق او حل لپاره د IX رتبې لرونکې سره شريکې کړي لکه څنګه چه د 1972 او د تعليم د تعديلاتو کوډ 234.1 کې ذکر شوې دي. د AR 1312.3 د شکايتونو يونيفورم پروسيجر د اجراءاتو سره سم د جنسي تيري تحقيق او حل لپارې ولټوو. د مديريت د IX رتبې لرونکي مسؤلينو/د شکايت اوريدو د افسرانو سره په لاندې پادو شوو معلوماتو اړيکه نيولای شئ:

### د IX ټايټل لرونکی کورډيناټور

(916) 643-7446 سره په اړيکه کې شئ.
نيغ په نيغه د IXټايټل لرونکي کورډيناټور ته د شکايتونوراپور ورکړئ
www.scusd.edu/post/title-ix-harassment-complaint-forms

(cf. 1312.3 – د شکايتونو يونيفورم پروسيجر)
(cf. 5131 - چلند)
(cf. 5131.2 – ځورونه)
(cf. 5137 – د مثبت ښوونځي چاپيريال)
(cf. 5145.3 – عدم تبعيض/ځورونه)
(cf. 6142.1 - جنسي روغتيا او ايډز/ايچ آی وي د مخنيوي لارښووني)

د غير اخلاقي چلند ځيني بېلونه چه په د ښووني او روزني مديريت لخوا منع دي چه کيدای شي د جنسي تيري او ځوروني زمينه جوړوي مګر محدود ندي يعنی ددې نه علاوه نور هم شته:

1. نا غوښتل شوي او بې ځايه په چا پسې کتل، جنسي تيری، يا وړانديزونه؛
2. جنسي سپکاوی، تشبيهات، ګواښونه، لفظي ناوړه ګټه اخيستنه، توهينونکي تبصرې يا د جنسي سپکاوي توضيحات؛
3. د يو فرد د بدن يا د شخصي خبرو په اړه ګرافيک لفظي تبصرې؛
4. د جنسي تيري ټوکې، توهين کونکي پوسټرونه، يادداشتونه، کيسې، کارټونان، نقاشي/رسامي، انځورونه يا فحاش اشارې، يا په کمپيوټر جوړ شوي د جنسي تيري طبيعي عکسونه
5. د جنسي اړيکو د اوازو خپرول
6. د هغو زده کونکو په قصدي توګه ځورول او يا پر هغو باندې د جنسي اړيکو تبصرې کول چه د واحد جنس په ټولګي کې شامل دي.
7. د بدن مالش کول، يو چا ته لاس اچول، مينه کول، نوکارې لګول يا سکونډل، يا د بدن برش کول
8. د جنسي اړيکو يا د شهوت په نظر د يو تن بدن يا جامې لمس کول
9. د حرکتونو مخنيوی يا بندول يا د ښوونځي په فعاليتونو کې فزيکي مداخله کله چې د يو تن د جنسيت يا جينډر هويت يا بيان پر اساس خبره کيږي
10. د جنسي اړيکو لپاره وړانديز کونکي شيان ښکاره کول
11. جنسي تيری، جنسي بيټری، جنسي تاوتريخوالی، يا جنسي جبر او زور
12. د برقي وسايلو له لارې تبصرې، الفاظ او کليمې، يا تصويرونه ليږل چه په پورته معلومات کې اکثره ذکر شول

هغه غير اخلاقي چلند چه د کيمپس څخه د باندې يا د ښوونځي څخه د باندې شاوخوا د ښوونځي اړونده پروګرامونه يا فعاليتونه به په عمومي ډول د جنسي ځورونې په توګه نه ګڼل کيږي چې د مديريت د پاليسي يا تعليمي کوډ څخه سرغړونه وي. خو بيا هم که چيرې دوامداره بده اغيزه ولري يا د شکايت کونکي يا قرباني شوي لپاره له دښمنی څخه ډک چاپيريال رامنځته کړي، د ښووني او روزني مديريت به خدمتونه وړاندې کړي او د ټولو اړخونو د خونديتوب ډاډمن کيدو لپاره لنډمهاله اقدامات پيل کړي او ممکن د چلند په اړه نوره اړينه څېړنه وټاکي.

### خبرتياوې

د ښووني او روزني د مديريت د جنسي ځوروني پاليسي او مقرراتو يوه کاپي بايد:
هغه خبرتياوې هم شاملې وي چه د هر ښوونيز درسي کال په پيل کې والدينو ته ليږل کيږي.

(cf. 5145.6 (48980; 5 CCR 4917 تعليمي کوډ
– د والدينو خبرتياوې)

1. د اصلي اداري ودانی يا بله داسې مهم ځای کې وځړول شي چې د ښوونې او روزنې مديريت قواعد، مقررات، طرز العملونه، او د چلند معيارونه خبرتيا پکې وي.( تعليمي کوډ 231.5 )
2. د مديريت د جنسي ځوروني پاليسي او مقرراتو يوه کاپي بايد د مديريت او ښوونځي په ويب سايټونو کې پوسټ شي ترڅو د مديريت لخوا پيژندل شوې رسنيو کې په اسانی سره ښکاره او لاس ته راوړل شي.
3. د نويو زده کونکو لپاره د هر ډول لارښووني پروګرام د يوې برخې په توګه برابر شي. (Education Code 231.5)

پرته له دې چې دا ډول شواهد ممکن د جنسي اړیکو د قربانیانو او ځواب ورکونکو مخکنیو اړیکو له یو بل سره د رضایت د خبرو اترو د تاسیس شویو میتودونو سره تړاو ولري

د جنسي ځورونې او تیري په هره قضیه کې چې راپور یې باید پرنسپ، د سایټ IX رتبه لرونکی متخصص، د مدیریت IX رتبه لرونکی، یا کوم بل کس ته ضرور ورکول کیږي یا ثبت کیږي، امکان دې ولري چه راپور ددوی پرځای سُپرنټنډنټ(د مدیریت عمومي رئیس) یا ډیزاین کونکي ته وسپارل شي او دا به معلومه کړي چه شکایت باید څوک پلټنې وکړي.

د ماشومانو څخه د ناوړه ګټې اخیستنې مخنیوی او راپور ورکول – (cf. 5141.4

**محرمیت**

د قانون د تطبیق په اساس، د جنسي تیري او ځورونې ټول شکایتو او تورونه باید په جدي توګه پټ وساتل شي او د تحقیقاتو د ترسره کولو په صورت کې نور اړین اقدامات تر سره کیږي. (5 CCR 4964)

کله چې یو شکایت کونکی یا د جنسي تیري او ځورونې قرباني شوی تاسو ته د قضیې په اړه خبر درکوي او درته وایي چه زما معلومات باید محرم وساتل شي او څوک پرې خبر نه شي، نو د مدیریت د IX رتبه لرونکی کورډیناټور باید په ځواب کې ووایی چه ستاسو د قضیې معلومات د مدیریت پورې محدود دي. نور څوک ورته لاس رس نلري. مدیریت خپل تحقیقات او لازم اقدامات جاري ساتي. هرکله چې د محرمیت غوښتنې ته درناوی وشي، مدیریت به بیا هم ټول معقول ګامونه پورته کړي تر څو ټولو شکایتونو ته سم ځواب ووایي.

کله چې یو شکایت کونکی یا د جنسي تیري او ځورونې قرباني شوی تاسو ته د قضیې په اړه خبر درکوي او غوښتنه در څخه وکړي چه د جنسي تیري او ی ځورونې په هکله تحقیقات مه کوئ نو د ښوونې او روزنې مدیریت به معلوم کړي چه دا ډول غوښتنو ته په څه ډول ځواب ووایو پداسې حال کې چې د ټولو زده کونکو لپاره امنیت، خوندیتوب او د عدم تبعیض چاپیریال برابر دی.

د محرم معلومات نورو ته ښودل محرم دي/ – (cf. 4119.23/4219.23/4319.23
(د زده کونکي دوسیه/سوانح – (cf. 5125 (امتیازي معلومات

**معلق( پاتې) تحقیق ته ځواب**

کله چې د جنسي زیاتي/ځورونې د یوې قضیې راپور ورکړل شي، نو د ښوونځي پرنسپل، او یا د سایټ IX رتبه لرونکی متخصص د ښوونې او روزنې مدیریت په مشورې سره باید معلومه کړي چې د قضیې د حل او فصل لپاره لنډمهاله اقدامات ونیسي او که د تحقیقاتو لپاره په کلاره کلاره ځانونه نتیجې ته ورسوي. د ښوونځي پرنسپل او یا د سایټ IX رتبه لرونکی متخصص باید د جنسي زیاتي/ ځورونې د بندولو او د زده کونکو د ساتنې او / یا تعلیمي پروګرام ته لارس رسي د ډاډ تر لاسه کولو لپاره سمدستي لازم او جدي اقدامت شروع کړي. هر څومره چې کیدای شي دا ډول لنډمهاله اقدامات باید د شکایت کونکي او یا د ادعا شوي زیاتي او ځورونې قرباني زیانمنه نکړي. په لنډمهاله اقداماتو کې کیدای شي د قانون اوبورډ د پالیسۍ سره سم په جلا ټولګیو کې د قضیې د ښکېلو کسانو ځای پر ځای کول یا د یو بل ښوونکي لخوا تدریس شوي ټولګي ته د زده کونکي لیږدول شامل وي. که یو زده کونکی غواړي او که نه غواړي چه شکایت یې په رسمي شکل درج او ثبت شي او یا ووایی چه دا جنسي تیری د ښوونځي څخه د باندې تر سره شوی. مونږ وایو چه دا ډول کړنې باید په پام کې ډیرې جدي ونیول شي

(د شکایتونو د یونیفورم پروسیجر – (cf. 1312.3

4. د نهم ټولګي نویو زده کونکو لپاره د هر ډول لارښوونې پروګرام د یوې برخې په توګه برابر شي.
5. د ښوونځي یا مدیریت په هره خپرونه کې ښکاره شي چې د ښوونځي یا د ښوونې او روزنې مدیریت ټول قواعد، مقررات او پالیسي، طرز العملونه او د چلند معیاروه پکې څرګنده شي.( 231.5 تعلیمي کوډ )

6. کارکونکو او د کارکونکو شرکتونو ته چمتو شي.
7. د زده کونکي په لاسي کتاب کې شامل شي.

**د راپور ورکولو بهیر او د شکایتونو څېړنه او قرار داد**

هر هغه زده کونکی چې پدې باور وي چې دا له بل زده کونکي، کار کونکي، یا دریمې ډلې لخوا د جنسي تیري یا ځورونې سره مخ شوی یا د جنسي ځورونې شاهدان په کلکه هڅول کیږي چې شکایت وکړي او د پېښې راپور خپل ښوونکي، مدیر یا د ښوونځي بل کار کونکي او مسؤل ته ورکړي. د ښوونځي په دوو ورځو کې او یا کله چه مناسب وخت ولري د ښوونځي کار کونکی باید د ښوونځي مدیر، یا د سایټ ټاکل شوي متخصصسرپرست IX یا د روزنې او ښوونې مدیریت د شکایتونو اوریدو افسر IX، چه IX افسر د شکایت د تحقیق مسئول وي، او یا د مدیریت د سرپرست معاون چه د سایټ لپاه مسؤل دی چې د اداري قوانینو او مقرراتو AR 1312.3 د شکایتونو یونیفورم پروسیجرونو سره مطابق وي. له دې برسیره، د ښوونځي کوم کار کونکی چې د جنسي ځورونې پیښه یې کتلې وي، باید د خپلې مشاهدې راپور د دوو ورځو په جریان کې د سایټ متخصص IX ته ورکړي. د ادعا قربانی شوی شکایت کوي او که نه، کار کونکی باید خپل راپور ضرور ورکړي.

په هغه مسایلو کې چې د زده کونکي لخوا د تیري او ځورونط شکایتونه پکې شامل وی د ښوونې او روزنې مدیریت یو کار کونکی، د بشري منابعو ریاست باید د تحقیق مشري وکړي او د ټولو راپور ورکړل شویو قضیو د حل مسؤلیت په غاړه واخلي. د مدیریت IX رتبه لرونکی کورډیناټور کولای شي چه د ضرورت په صورت کې د تحقیق د ټیم سره مرسته وکړي.

کله چې یو زده کونکی د جنسي تیري او ځورونې شفوي او یا غیر رسمي راپور ورکوي، د IX رتبه لرونکی متخصص لخوا باید زده کونکي او یاه دهغه مور او پلار ته وویل شي چې د مدیریت د قوانینو پر اساس تاسو باید یو لیکل شوی رسمي شکایت درج کړئ چه تاسو ددې ازاد حق لرئ. د زده کونکو د جنسي تیري او ځورونې ټول شکایتونه او تورونه باید د قانون او د مدیریت د قوانینو او طرز العمل سره سم وڅېړل شي او د حل لارې چارې یې وګوري. د IX رتبه لرونکی کورډیناټور باید ټول تورونه وګوري تر څو شکایت ته د ځواب ویلو لپاره د تطبیق وړ طرز العمل وټاکي. د IX رتبه لرونکې سرپرست په همکارۍ ټول د جنسي تیري او ځورونې شکایتونه وڅېړل شي او حل شي. د جنسي تیري او ځورونې نور شکایتونه باید وڅېړل شي او د BP/AR 1312.3- یونیفورم شکایت پروسیجرونو سره سم حل شي.

که چیري د جنسي تیري او ځورونې شکایت د ښوځي مدیر یا د سایټ متخصص IX رتبه لرونکي ته وړاندې شي، دوی باید په دوو رسمي درسي ورځو کې د شکایت راپور د مدیریت د شکایتونو مسؤل IX رتبه لرونکي ته واستوي. د مدیریت د شکایتونو مسؤل IX رتبه لرونکی باید د راپور اسناد وساتي او د اړتیا سره سم د سایټ IX رتبه لرونکي متخصص ته راپور ورکړي چه په سمه توګه د ناوړه چلند د شکایت د حل لارې چارې وسنجوي.
په پیچلو مسایلو کې او د هربیلا بیلې قضیې د اړتیا په اساس، امکان لری چې د ښوونې او روزنې کورډیناټور IX رتبه لرونکی د قضیې تحقیق په مستقیم ډول پخپله غاړه واخلي.

د جنسي تیري او ځورونې د شکایت په تحقیق کې شاهدان او ګواهي ورکونکو د پخوانیو جنسي اړیکو موضوع په پام کې ونه نیول شي،

6. د شکایت په اړه پرېکړې ته رسیدو کې، د ښوونځي پرنسپل یا د سایټ IX رتبه لرونکی متخصص په شکایت کې د حقیقي تورونو د اعتبار په ټاکلو کې د " شواهد لومړیتوب" معیار پلی کړي.

7. دا معیار پوره کېږي که چېرې تور د حقیقت په پرتله ډېر احتمال ولري. د شکایت په اړه پرېکړې ته رسیدو کې، د ښوونځي پرنسپل او یا د سایټ IX رتبه لرونکی متخصص ممکن په پام کې ونیسي:
   a. د پورته پېژندل شوي اشخاصو لخوا بیان شوي؛
   b. د هر شخص د حساب توضیحا او دوام
   c. ددې ثبوت چې شکایت کونکی زده کونکی د پیښې په اړه څه ډول غبرګون ښودلی؛
   d. د تورن کس لخوا د ځورونې د تیرو بیلګو شواهد؛ او /یا
   e. د تیرو جنسي ځورونو شکایاتو شواهد چې بې اعتباره موندل شوي.

8. د جنسي ځورونې د شدت قضاوت کولو لپاره، د ښوونځي پرنسپل او یا د سایټ IX رتبه لرونکی متخصص ممکن په پام کې ونیسي:
   a. څنګه ناوړه چلند د یو یا ډیرو زده کونکو اغیزه پر تعلیم اغیزه کوي او / یا
   b. څرنګه د ښوونځي او یا د مدیریت لخوا وړاندیز شوې تعلیمي پروګرام او یا فعالیت ته لاس رسی پیدا کوي؛
   c. د ناوړه چلند ډول، تعدد، او موده، د ښکېلو کسانو شمېر؛
   d. د جنسي ځورونې تورن کس عمر او جنسیت؛ د ځورونې موضوع
   e. د جنسي ځورونې د پیښې ځای او وضعیت؛ او/ یا
   f. په ښوونځي کې نورې پیښې، په شمول د ځورونې پیښې چې د جنسي ځورونې سره تړاو لري او که نه.

9. پرنسپل او یا د ساحې IX رتبه لرونکی افسر باید د دوی د موندنو، پریکړې دلیلونو راپور ولیکي، د راپور موندنې شکایت کونکي او ځواب ورکونکي ته وړاندې کړي او د ښوونې او روزنې مدیریت سرلیک همغږي کوکي ته یو نقل/کاپي وړاندې کړي.

10. پرنسپل او یا د سایټ IX رتبه لرونکی متخصص باید د مدیریت IX رتبه لرونکی متخصص ته د شکایت، څېړنې، موندلو او د حل لپاره یو راپور ولیکي او ورته یې تسلیم کړي. که چېرې دوی د جنسي ځورونې پیښه تایید کړي، دا راپور باید هغه اقدامات بیان کړي چې دوی د ځورونې پای ته رسولو لپاره ترسره کړي دي، د ځوونکي شخص په اړه د ځورونې اغیزې په ګوته کړي او د غچ اخیستنې یا نور ځورونې مخه ونیسي.
د شکایاتو، تحقیقاتو، موندنو او د حل ریکارډونه کیدای شي د مدیریت د رتبه لرونکي یا ډیزاین کونکي لخوا په کلنۍ توګه وڅیړل شي. IX

11. د مدیریت د حقوقي مشاور سره په مشوره، د شکایت په اړه د پریکړې د لیکل شوي راپور د اړونده برخې په اړه معلومات ممکن یو قرباني ته واستول شي چې شکایت کونکی نه دی او نورو اړخونو ته چې ممکن د پریکړې په پلي کولو کې دخیل وي یا د شکایت لخوا اغیزمن شوي وي، تر هغو چې د اړخونو محرمیت وي، خوندي ادعا شوي قرباني ته د مدیریت د پریکړې په خبرتیا کې باید د هر ډول بندیز په اړه معلومات شامل وي چې په ځواب ورکونکي باندې لګول کیږي چې مستقیم د ادعا شوي قرباني سره تړاو لري.

12. د ښوونځي پرنسپل یا د سایټ IX رتبه لرونکي متخصص باید دا معلومه

**د سایټ په کچه د تفتیش مرحلې:**

1. د ښوونځي پرنسپل او یا د سایټ IX رتبه لرونکی متخصص باید ژر تر ژره ژره په سمدستي توګه د مدیریت د مسؤل IX رتبه لرونکی کورډیناټور په ګډون د لومړني راپورونو یا د جنسي شکایتونو پلټنه وکړي. د ځینو قضیو او شکایتونو او تورونو خاصو ټکو ته په کتلو سره باید اړیکه مستقیماً د ښوونې او روزنې د IX رتبه لرونکی کورډیناټور سره سمدستي ونیول شي.

2. هغه زده کونکی چه شکایت کوي باید د دا فرصت ولري چې د پیښې جزیات، شاهدان، او د جنسي ځورونې نور شواهد بیان کړي او خپل شکایت په لیکلي ډول وړاندې کړي.

3. ددوی د تحقیقاتو په ترسره کولو کې د ښوونځي پنسپل، یا د مدیریت IX رتبه لرونکی متخصص په انفرادي ډول هڅه وکړي چې د لاندې اشخاصو سره اړیکه ونیسي:
   a. هغه زده کونکی چې راپور ورکوي
   b. هغه زده کونکی چه قرباني شوی وي که چېرته د راپور ورکونکي زده کونکي څخه بل یو تن وي
   c. هغه تن چې په ځورونې تورن دی
   d. هر هغه څوک د جنسي ځورونې پیښه یې لیدلي وي او یا یې اوریدلي وي.
   e. هر هغه څوک چې د یادې پیښې په اړه ورسره یو څه معلومات وي.

4. د ښوونځي پرنسپل یا د سایټ IX رتبه لرونکی متخصص باید یواځې د د پورته ذکر شویو اشخاصو سره د موضوع په اړه بحث کوي کله چې ددوی د څېړنې ترسره کولو لپاره یا د نورو ښو دلیلونو لاس ته راوړلو لپاره چې په ځانګړي حالت کې پلي کېږي او ضرورت لري، پرنسپل یا ډیزاین کونکی کولای شي د لاندې اشخاصو سره د شکایت په اړه بحث وکړي:
   a. سّپرنتینډنټ(سرپرست) یا ډیزاین کونکي سره
   b. د راپور ورکونکي د مور او پلار/سرپرست سره
   c. د قرباني شوي زده کونکي مور او پلار/سرپرست سره که د راپور ورکونکي زده کونکي سره توپیر ولري
   d. د هغه زده کونکي د مور او پلار/سرپرست سره چه د یو چا په تیري /ځورولو تورن دي
   e. یو ښوونکی یا د ښوونځي کار کونکی غړی چه د زده کونکو په اړه پوهاوی لري او د موضوع د پیښې په اړه ډېر معلومات راکولای شي چې څه پیښ شوي
   f. د ماشومانو د ساتنې اداري او ایجنسیانې د ماشومانو څخه د ناوړه ګټې اخیستنې د راپورونو د څېړلو حق او مسؤلیت لري
   g. د مدیریت لپاره حقوقي مشاور (د ماشومانو څخه د ناوړه ګټې اخیستنې مخنیوی -cf. 5141.41 )

5. د ښوونځي پرنسپل یا د سایټ IX رتبه لرونکی متخصص باید د زده کونکي د مور او پلار سره خبرې وکړي چه تاسو یا ستاسو ماشوم حق لرئ چه د شکایاتو د قانون او پروسیجر مطابق تاسو هم په رسمي شکل خپل شکایت ثبت کولای شئ. د جنسي تیري او ځورونې مسئلې ټول شکایتونه او تورونه چې د زده کونکو لخوا تر سره شوې باید د مدیریت د طرز العملونو په نظر کې نیولو سره سمه وڅېړل شي او حل شي. د IX رتبه لرونکی کورډیناټور باید تورونه بیا وګوري ترڅو د قضیې د حل لپاره د اصولو سره سم لازم ځوابونه پیدا کړي. ټول هغه شکایتونه چې د IX سرلیک لاندې د جنسي ځورونې تعریف پوره کوي او د ولسوالۍ په واک کې راځي، باید د BP/AR 1312.3 – د یونیفارم شکایت پروسیجرونو سره سم وڅیړل شي او حل شي.

کړي چې آيا هغه زده کونکي چې شکايت يې کړی، نور ځورول شوی او که نه. پرنسپل او يا د سايټ IX رتبه لرونکی متخصص بايد ددې معلوماتو ريکارډ وساتي او د زده کونکو د هر ډول روان ملاتړ خدمتونو لکه مشورې ورکولو اړتيا ارزونه تعقيب ته دوام ورکړو.

13. د ښوونځي پرنسپل يا د سايټ IX رتبه لرونکي متخصص بايد دا خبر هم ورکړي چې شکايت کونکی او ځواب ورکونکی د پايلو سره موافق نه وي، دوی کولای شي د غوښتنې له لارې د پايلو غوښتنه وکړي او د 112.3 – BP/AR يونيفورم شکايت پروسيجرونو لاندې په رسمي ډول شکايت وځيړل شي.

**تطبيق**

سوپرنټنډنټ (د مديريت عمومي رئيس) يا د مديريت معارف د IX رتبه لرونکی کورډيناټور بايد د مديريت جنسي ځوروني پاليسي پياوړي کولو لپاره مناسب اقدامات وکړي. دا کړنې کيدای شي د لاندې څخه يکي يو يا څه شامل وي:

1. د فحشاء او سپکاوي ګرافيت ليري کول؛
2. کارکونکو او زده کونکو لپاره ښې او غوره مشورې شريکول؛
3. د والدينو او سرپرستانو خبرتيا؛
4. د ماشوم د حفاظتي خدمتونو خبرتيا؛ او
5. مناسب نظم وضبط اقدام تر سره کول. برسيره پر دې، پرنسپل او / يا د سايټ IX رتبه لرونکی متخصص ممکن د هر هغه چا په وړاندې د نظم و ضبط اقدامات تر سره کړي چې دوی ته دا معلومه شي چې د جنسي ځوروني شکايت ريښتيا ندی او پر دې شواهد لاس ته راوړي.

**د SCUSD مديريت د IX رتبه لرونکی کورډيناټور**

سټيفن براؤن
د زده کونکو د شکايتونو اوريدلو او ځای پر ځای کولو د څانګې رئيس
5735 47th Avenue, Sacramento, CA 95824
916-643-9425
www.scusd.edu/post/title-ix-harassment-complaint-forms

**ټايټل V**

## د زده کړې د پيل پروګرامونه

**امريکن ليګوين کنټينيويشن های سکول**

3801 Broadway, 95817   916-395-5000

- داو طلبانه / غير ارادي ننوتلو او وتلو پروسيجرونه
- خاص تعليم: يواځې RSP
- د پروګرام معلومات: ډيپلومه

**کيپيټل سټي سکول ( ازاد درسونه)**

د تصديق فارم ضرور بايد ډک کړل شي

7222 24th Street, 95822   916-395-5020

- له K څخه تر 12 ټولګي پورې

- يواځې داوطلبانه
- پروګرام: ورته د ښووني او روزني مديريت او دولتي نصاب. په اونی کې يو ساعت د ښوونکي سره، 20 ساعته/په اونی کې خپلواکه مطالعه
- خاص تعليم: نه

**چارلز ای جونز او تعليمي مرکز**

5451 Lemon Hill Avenue, 95824   916-395-5800

- 18 کلن او يا ډېر، آزاده نوم ليکنه
- خاص تعليم: که چېرې IEP معرفي کړي.
- ساعتونه: دوشنبه – جمعه 7:30 a.m.- 4:30 p.m.
  دوشنبه – پنجشنبه 5:30 p.m.- 9:30 p.m
  شنبه 9:00 a.m.- 3:30 p.m

**سکريمنټو ايکسيليريټيډ اکيډمي**

5601 47th Avenue, 95824   916-643-2341

.

- ټولګي: له 11 څخه تر 12 پورې
- خاص تعليم: يواځې RSP
- **پروګرام:** سکريمنټو ايکسيليريټيډ اکيډمی (SAA) د مديريت معارف د آنلاين کريډيټ بېرته راګرځولو پروګرام دی چې د نوم ليکنې او کورنی خدمتونو مرکز ( جينيسس کيمپس) کې موقعيت لري. SAA زده کونکي د کمپيوټر لابراتوار سيټنګ ، د سايټ ښوونکو او آنلاين ښوونکو په مرسته سره خپلې زده کړې پر مخ بوځي.

**سکسيز اکيډمي ( د برياليتوب اکيډمي) Success Academy**

2221 Matson Drive, 95824   916-395-4990

- ټولګي: له 11 څخه تر 12 پورې
- خاص تعليم: يواځې RSP
- پروګرام: د وعده کونکو زده کونکو لپاره علمي، چلند، او ټولنيز/احساساتي ملاتړ
- د قضيې په اساس، د سکسيز اکيډمي کولای شي اخراج شوي زده کونکي د 4 نه تر 8 ټولګيو کې شامل کړي.
- د سکسيز ټولو اکاډيميو ته زده کونکي د زده کونکو د شکاياتو اوريدلو او ځای پر ځای کولو څانګې لخوا راجع او معرفي کيږي.

## د زده کونکي / والدينو چارې

**په مشورتي شوراګانو کې ګډون**

والدين يا سرپرست حق لري چې د ښوونځي سايټ شورا، د والدينو مشورتي شورا، يا د يو غړي په توګه برخه واخلي. د سايټ پر بنسټ د مدير مشرتابه ټيم د مقرراتو سره سم په دې سازمانونو کې د والدين يا سرپرست غړيتوب اداره کوي. ( 51101 § تعليمي کوډ )

**د رضاکارانه وخت او سرچينې**

والدين يا سرپرست کولای شي چې خپل وخت او سرچينې په داوطلبانه توګه د مديريت د کارکونکو سره د مديريت د څارنې لاندې د ښوونځي د تاسيساتو او پروګرامونو د ښه والي لپاره مصرف کړي.

[(14) (a) 51101 § تعليمي کوډ]

مصرف د زده کونکو د خونديتوب ډاډمن کولو لپاره، **ټول** رضاکارن بايد د ګوتو د نښان د سکرينګ (فينګر پرنټ) پروسه سر ته ورسوي ( 32390 § تعليمي کوډ )
د توبر کلوز (TB) ټيسټ وکړئ او د ښووني او روزني مديريت په ويب پاڼه کې داوطلبانه ټريننګ کتلای شئ:

يو متحرک سپی وګوري. د دوی ځوابونه محرم دي. د نورو معلوماتو لپاره یا د سروی پوښتنو د کاپي لپاره په لاندې لینک اړیکه ټینګه کړئ: Kelvin@scusd.edu او یا

د انتخاب لپاره پورته ذکر شوی لینک وکاروئ

**رواني ازموينه**

والدين / سرپرست حق لري چې د رواني ازموينې په اړه معلومات تر لاسه کړئ چې د دوی ماشوم پکې شامل وي او د ازموينې ورکولو اجازه رد کړي. (51101 § تعليمي کوډ)

**د زده کونکي او کورنۍ محرميت** دا د ښوونې او روزنې مديريت پاليسي ده چې د زده کونکو او د دوی د کورنيو په اړه شخصي معلومات د قانون سره سم بايد شخصي او پټ وساتل شي.
د ښوونې او روزنې کارکونکي منع کړی شوي دی چې زده کونکو ته د سروی وسيلو اداره کولو یا ويشلو ددې هدف لپاره چې د بازار موندنې یا پلورنې لپاره شخصي معلومات راټول کړي.
هر شخصي معلومات چې د ښوونځي د مشاور سره د مشورې پرمهال د 12 کلن یا ډير عمر لرونکی زده کونکي لخوا شريک شي، یا د 12 کلن یا ډېر عمر لرونکي د مور او پلار یا ساتونکي لخوا شريک شي، بايد محرم وساتل شي مګر که د قانون لخوا يو مسئول ته اجازه ورکړل شي. (49602 § تعليمي کوډ) (د بورډ او / یا د سوپرټينډنټ د بيا کتنې شوې مديريت پاليسی او / یا مقرراتو تصويب تابع)

**په سروی کې د زده کونکو ګډون**

هيڅ زده کونکي ته دا اجازه نه ورکول کيږي چې د مور او پلار له رضائيت پرته هيڅ ډول ازموينه، سروی، پوښتنليک، شخصي یا د کورنۍ عقيدې ، یا د جنسي اړيکو بحث، کورنی ژوند، اخلاقو، یا مذهب په اړه پوښتنې ولري.
په هر صورت په عمومي ډول ، داوطلبانه او محرم تحقيق او د زده کونکو د روغتيا چلند او خطرونو اندازه کولو لپاره د ارزونې وسيلې، په شمول د ازموينې ، پوښتنليکونه، او سروی چې د زده کونکي د چلند په اړه د عمر سره مناسبې پوښتنې لري، یا د جنسي اړيکو پورې اړه لري، کيدای شي د 7څخه تر 12 ټولګي پورې هر زده کونکی ته اداره شي که والدين یا سرپرست به ليکلي ډول يې غوښتنه نه ده کړې چې د دوی ماشوم ګډون ونه کړي. [ § 51513 § 51938.60614:20 U.S.C. 1232h(a) and (b تعليمي کوډ] ( د بورډ او / یا د سوپرټينډنټ د بياکتنې شوی مديريت پاليسی او / یا مقرراتو تصويب تابع دي.

**سياسي تړاو / چلند / د کورنۍ اړيکو سروی بنده کړئ**

والدين / سرپرست به په ليکلي ډول خبر شي که چيرې ازموينه، پوښتنليک، سروی یا سوالون د دوی ماشومانو ته اداره شي چې د دوی په اړه پوښتنې ولري (یا ددوی مور او پلار) سياسي تړاوونه یا باورونه ، غير قانوني، ټولنيز ضد، د ځان تورنول، یا سپکاوی کول، رواني ستونزې، وکيل، ډاکټر، وزير، د هغو کسانو انتقادي ارزونه چې دوی (یا د دوی مور او پلار) سره نږدې کورنۍ اړيکې او عايد لري( پرته له دې چې په پروګرام کې د ګډون لپاره د وړتيا ټاکلو لپاره د قانون له مخې اړتياوې یا د داسې پروګرام لاندې مالي مرستې تر لاسه کولو لپاره ).

والدين حق لري چې د لاربښوونې ټول توکي په شمول د ښوونکي لاربښود، فلمونه، ټيپونه، یا نور اضافي مواد چې د هرې سروی، تحليل یا ارزونې په اړه کارول کيږي، معاينه کړي.

https://mandatedreporterca.com/training/school-personnel.

د داوطلبانه فورم ډکولو او زيات معلومات تر لاسه کولو لپاره د ښوونې او روزنې ويب پاڼه https://www.scusd.edu/volunteer وګورئ او یا د سيرنا سنټر د والدينو د سرچينې مرکز ته په 916-643-7924 شمېره زنګ ووهئ. د ګوتې د عکس (فينګر پرنټ) د ملاقات جوړولو او خدمتونو لپاره 9050 -643 (916) ته زنګ ووهئ.

**د کليفورنيا د صحي ماشومانو سروی**

**د شپږم ټولګي زده کونکي**

د کليفورنيا د ښوونې او پوهنې د رياست د تمويل په اساس له زده کونکو څخه وغوښتل شي چې د ښوونځي د صحي ماشومانو د سروی يوه برخه شي او زده کونکي د الکولو تمباکو، او نورو نشه يي توکو څخه وژغورل شي. دا يوه ډيره مهمه سروی ده چې د ځوانانو تر منځ د ښه روغتيا په وده او د نشه يي توکو د ناوړه ګټه اخيستنې په څېر د ستونزو د تاوتريخوالي له منځه وړلو مبارزه کې مرسته کوي. د هيچا معلومات بل يو تن ته نه ورکول کيږي. د سروی د بشپړولو لپاره د زده کونکو والدين/سرپرست لخوا ليکل شوې اجازه اړينه ده. يواځې د شپږم ټولګي زده کونکي به د ابتدائيه ښوونځي سروی تر لاسه کړي.

**د اووم، نهم او يوولسم ټولګي زده کونکي**

د زده کونکو څخه به وغوښتل شي چې د دوی د فزيکي فعاليت او د تغذيې د عادتونو په اړه معلومات راټولو لپاره برخه واخلي لکه الکول، تنباکو، او نور نشه يي توکي استعمالول، د ښوونځي خونديتوب، چاپيريال او انفرادي ځواک او شتمني. دا معلومات به د څېړنې موخو لپاره د يو بهرني ارزونکو سره شريک شي. والدين / سرپرست کولای شي. پوښتنليک د ښوونځي په دفتر یا د ماشومانو د صحي ويب پاڼې څخه پر دې لينک کې امتحان کړي: www.wested.org/hks

سروی داوطلبانه(پخپلې خوښې) او نا معلومه ده او هيڅ نوم به د سروی د فارمونو او یا معلوماتو سره نه وي ثبت شوی. هغه زده کونکي چه غواړي په سروی کې برخه واخلي، بايد يواځې هغه پوښتنې ځواب کړي چې دوی يې غواړي ځواب ورکړي او هر وخت کولای شي چه سروی ودروي.

د ځوانانو د روزونکي خدمتونو / هدف شوي مخنيوي / د مداخلې يونټ سره ددې سروی په هکله د زده کونکي د والدينو / سرپرست سره ددوی د حقوقو په اړه د هرې پوښتنې لپاره په 916-643-9409 اړيکه ونيسئ.

**د Kڅخه تر 12 ټولګي د ټولو زده کونکو څخه به وغوښتل شي چې د ښوونځي د اقليم کلنۍ سروی په يوه برخه کې برخه واخلي**

**د کليوين د هوساينې د نبض سروی**

SCUSD به سږکال د زده کونکو څخه د يوې لنډې آنلاين سروی له لارې خپل نظر شريک کړي چې د زده کړې لپاره روغ، صحتمند او خوشحاله ځايونه وګورو. د زده کړې مثبت چاپيريال، د تکړه لويانو څخه زده کول، او د همکارانو تر منځ اړيکې، او ټولنيز، او احساساتي زده کړې د زده کونکو په پايلو باندې د اندازه کولو وړ اغيزې ښودل شوي دي. دا وسيله به د زده کونکي د ټولګي دننه او د باندې ، حاضرې، او چلند، او د يو مکمل ماشوم انځور جوړ کړي ترڅو SCUSD مديريت د دوی ضرورتونه په غوره توګه پوره کړي.
سروی به د زده کونکو له نظره د ښوونځي کلتور او ټولنيز او احساساتي زده کړې اړخونه اندازه کړي. زده کونکي د خپلو وسايلو د استعمال پرمهال نبض ته ځواب ووايي.
زده کونکي ديته ضرورت نلري چې ويب پاڼې یا پورټل ته ننوځي، نو د هير شوي پاسورډونو او او يوزرنيم سره هيڅ ګډوډي شتون نلري. دوی کولای شي د هرې ويب پاڼې له لارې سروی ته ځوابونه ووايي. کروم بُک د زده کړې وسيله کې د لټون پرمهال زده کونکی به په لاندې ښي کونج کې

**د زده کونکو د حقوقو د محرمیت خبرتیا**

